
یوهان ولفگانگ فون گویټه



# د ځوان ویرتیر دردونه

ژباړه او لنډونه: عبدالحق سلامزوی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتابپېژندنه


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د ځوان وېرتېر درونه –də dzwā´n we´rter dardu´na |
| د کتاب آر نوم | : | Die Leiden des jungen Werthers |
| انګرېزي نوم | : | The Sorrows of Young Werther |
| لیکوال | : | یوهان فون ولفګانګ ګوېټه / Johann Wolfgang von Goethe |
| موضوع | : | ناول، د آلمان ادبیات |
| پېر | : | ۱۸مه پېړۍ |
| فارسي ژباړه | : | فریده مهدوي دامغاني |
| پښتو ژباړه او لنډونه | : | عبدالحق سلامزوی |
| کال | : | ۱۴۰۰ مرغومی ۸ |
| ځای | : | کابل |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

د ځوان وېرتېر دردونه (ناول - کیسه) ۳

د «ځوان وېرتېر دردونه» کې د گوېټه ویناوې ۳۷

د یوهان ولفگانگ گوېټه ژوند او «د ځوان وېرتېر دردونه» ناول سره اړوندې خبرې ۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ځوان وېرتېر دردونه

«آه، څومره خوشحاله يم چې روان شوم! آه، تر ټولو راباندې ګرانه ملګريه، په رښتيا د انسان زړه څرنګه دی؟ ته يې چې دومره راباندې ګران يې، ته يې چې هېڅکله در نه جلا نه‌شوم. ستا پرېښودل او د خوشحالۍ او خوښۍ دغسې احساس لرل او تجربه کول.

خو ښه پوهېږم چې وبه مې‌بښې. نورې اړيکې مې ګنې تقدير دغسې ټاکلې نه وې چې زما د زړه غوندې کوم زړه وځوروي او وکړوي...؟

آه، بېچاره *ليونورا*! په دې حال زه بېخي بېګناه يم.»



(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ناول د لیکونو یوه لړۍ ده. دوې برخې لري، د لومړۍ برخې ټول لیکونه *وېرتېر* (د کیسې اتل) خپل ملګري *وېلهېلم* ته لیکلي دي او دویمه برخه کې بیا موندل شوي لیکونه دي، ځینې شارلوټې ته لیکل شوي، ځینې همداسې موندلې ټوټې دي چې د کتاب خپروونکي موندلې او بیا یې د لیک طبیعت، پېښو او تاریخي لړۍ ته په کتو په ناول کې اوبدلي دي. لومړی لیک د ۱۷۷۱ کال د مې په ۴مه لیکل شوی دی په دې لومړنیو لیکونو کې په پیل کې خپل روحي حالت بیانوي او د طبیعت انځورګري کوي. دی په هر ځای کې ګرځي، په غره، ښار، باغونو... کې.[1]

د دوو ماشومانو کیسه کوي چې کوچنۍ خور یې پام ورباندې کوي او پر مور هم ډېر ګران وي. ماشومان وېرتېر ته کیسې وایي او دی یو یو *کروتنر* (د هغه وخت آلماني دود پیسې) ورکوي او هم د ماښام خواړه ورسره شریکوي.

یو کلیوال زلمی د یوې کونډې خدمت کوي، په کرونده کې یې کار کوي او کونډې ډېر اغېزمن کړی وي، مانا پر کونډه مین وي.

وېرتېر د سیمې د قاضي پر لور مین شي د قاضي اته کسه اولاد دي چې نجلۍ له خپلو ورونو او خویندو سره د پلار کره اوسېږي. د وېرتېر ځوان ملګري چې یوه پېغله مېرمن ده او بله د هغې د تره لور، وېرتېر له ځان سره د نڅا یوه محفل ته روان کړي. په لار کې ورسره پېغله *شارلوته ابس* هم ملګرې کېږي، خو شارلوټې له بل سړي سره د واده ژمنه کړې وي چې هغه په دې ورځو کې د خپل پلار د مرګ له امله او هم د کار لپاره له

---

[1] - تبصره: بهرني لیکول په ناولونو کې خپل فکر، نظریه او لید بیانوي، خو زموږ په لیکوالو کې چې څوک خپل فکر ولري او یا خاصه وینا ولري، ډېر کم او بېخي په نشت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ځایه تللی وي. مازیگر د دوی بگۍ هغه دربار ته چې شارلوته پکې اوسېږي، ورسېږي، د هغې کور ته ورننوځي. د ویرتېر ملگرو ده ته ویلي وي، چې دا ډېره ښکلې پېغله ده، زړه به درځخه یوسي، خو هغې له بل چا سره د واده ژمنه کړې وي.

تر شارلوتې شپږ ماشومان چې په منگ له دوو تر دوولسو کلونو وي، راچاپېر وي. شارلوته منځنۍ ونه، سپین خت او ښکلی اندام لري؛ پر تټر یې گلابي رنگه ټکرى وېړ کړی وي. پر ماشومانو د ډوډۍ ټوکونه وېشي. ماشومان یې له مینې «لولوت» بولي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



شارلوته ماشوم ته وايي: لويي! ښاغلی ستاسې د تره زوی دی، لاس ورکړه!

وېرتېر، شارلوته او دوې نورې ملگرې يې *وېلهلم* ته د نڅا مېلمستيا ته وخوځېږي. ښځې په خپلو کې د جامو په ستاينه او پوښتنه ځانونه ستړې کړي؛ بيا د کتابونو په اړه بحث وکړي. وېرتېر ته شارلوته يو ځل کاته هم وکړي، خو پر ده تاثير ونه کړي، بلکې خبرې يې نه اوري؛ وېرتېر د شارلوتې په شونډو، غومبورو او تورو سترگو کې ورک وي. چې له بگۍ کوزېږي، بېخي د خوبونو په دنيا کې گرځي.

دوی ټول نڅېږي، هلته تر ټولو يو بدخويه سړی وي، په نڅا کې يې د شارلوتې لاس نيولی وي او وېرتېر ته يې لاس نه ورپرېږدي او دغه نڅا پای‌ته ورسېږي. دا ځل شارلوته انگرېزي نڅا وکړي. دا په خپل ټول وجود او ټول روح نڅېږي او له هرڅه فارغه يوازې په ټول زړه او حواسو نڅا کوي. بيا وېرتېر ترې د آلمانۍ نڅا هيله وکړي. شارلوته يې ومني، دا له خپلو جوړو سره وغږېږي او اجازه ترې واخلي. په دې نڅا کې وېرتېر هر څه هېر کړي، ځان ترې ورک شي، ځکه چې تر ټولو ښکلې موجود يې په څنگلو کې دی. له ځان سره پرېکړه وکړي، که يې سر هم ځي، خو له کومې ښځې سره چې د راتلونکې ژوند پرېکړه کوي، له بل چا سره به يې نڅا ته پرېنږدي.

د دې نڅا په پای کې دی هغه وروستۍ مالټه چې پاتې وي، شارلوتې ته ورکړي. شارلوته د ټولنيزو آدابو پر بنسټ له خپل کنجکاو گاونډي سره پېژندگلوي کوي، او دا کار د وېرتېر پر زړه خنجر منډي.

په درېيمه انگرېزي نڅا کې بله د پاخه عمر ښځه له وېرتېر سره نڅا پيل کړي، او شارلوتې ته گوتځنډنه هم وکړي او د *البرټ* (چې شارلوتې د واده ژمنه ورسره کړې ده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم ورته اخلي. شارلوته چې وپوښتل شي، اندېښمنه شي. دا یې ترې پټه نه کړي او ووایي چې البرټ هغه سړی دی چې دې د نکاح کولو لوز ورسره کړی دی. که څه هم وېرتېر له مخکې پر دې کیسه خبر وي، خو اوس یې زړه مات شي، له پښو او لاسونو یې سېک وخېژي.

بیا آسمان وتنېږي، د موسیقۍ غږ پکې ورک او نڅا ګډوډه شي. د موسیقۍ آرکېسترا هم ودرېږي.

دوی یوې کوټې ته بوځي او شارلوته څوکیانې په دایره کېږدي او داسې لوبه چې د حساب وي او تر زرو پورې به دوام کوي، که څوک پکې غلط شو، کلکه څپېړه ورکول کېږي، پیل کړي. دا لوبه ډېره چټکه وي، چې له یو کسه خامخا تېروتنه پکې کېږي. شارلوټې خپل لاس اوږد کړی وي او هرڅوک په خپل وار حساب وایي او شارلوته چټکېږي؛ هرڅوک څپېړې خوري او آن وېرتېر هم دوې څپېړې ووهل شي.

لوبه پای ته ورسېږي، وېرتېر په شارلوټې پسې ورشي، هغه دښتې ته ګوري او سترګې یې له اوښکو ډکې وي، د وېرتېر هم اوښکې وبهېږي او (د ګوېټه د محبوب) شاعر *کلاپشتاک* نوم واخلي!

په سبا یې چې لمر وي او هوا خوندوره، له مېلمستیا راوګرځي. دوې ملګرې یې ویدې شي؛ شارلوته وېرتېر ته وایي: هیله کوم زما لپاره ځان مه په عذابوه!

وېرتېر ووایي: کله مې چې مخامخ رڼې سترګې وي، هېڅ ستونزه نه پېښېږي!

دی په تګ کې له شارلوټې د بیا لیدو غوښتنه وکړي، دا یې هم ومني او په هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ بیا سره وګوري. نور نو وېرتېر پر دې نه پوهېږي چې لمر دی که ورېځ، سپوږمۍ ده او ستوري! او شپه څه وخت راغلې، بلکې هره هستي یې په چاپېر کې ورکه ده. د دنیا هره خوښي د ده په برخه ده. وېرتېر په واهلمهایم کې اوسېږي او تر شارلوټې پورې نیم فرسخ لاره وي. وېرتېر د واهلمهایم په غرونو، د سیند غاړهِ دښتو او ځنګونو کې چکر وهي. په باغ کې لوبیا راټولوي، نینې کوي یې او *هومېر*[1] وایي. بیا یې چورت یوسي چې د *پېنه‌لوپ*[2] زړورو خواستګارانو به څرنګه د موجوداتو ژوند ترې اخیست، غوایه او خوګان یې پوست او ورېټول...

طبیب د قاضي لیدو ته راغلی وي، د قاضي ماشومان د وېرتېر پر اوږو ورخېژي، طبیت ته دا سپک کار ښکارېږي او په لاره هر چا ته وایي چې د قاضي بچیان بې‌ادبه دي او د وېرتېر په شتون کې به لا بداخلاقه شي. خو وېترېر د ماشومانو دا عادتونه په راتلونکي کې د دوی لپاره مرستیالان، د ښې راتلونکې د جوړونې پیلامې او بدلېدونکي ګڼي.

د ښار د کشیش مېرمن شارلوټه وروغواړي، کشیش سپین ږیری شوی وي. لور یې *فریډریکه* له ښاغلي *شمېټ* سره دښتې ته د کارګرو لیدو ته ورغلې وي. په راتګ له شارلوټې سره تود روغبړ وکړي، رنګ یې غنمرنګ، ونه یې ټېټه خو هسک سره، او اندام یې موزون وي. شمېټ یې عاشق وي او ډېرې خبرې نه کوي. بیا چې مازدیګر د ونې سیوري ته کېني د حسادت په اړه بحث وکړي، خو شمېټ بیا هم هماغسې حسود او بدبین پاتې شي.

---

[1] - د یونان د مخزېږدو پېړیو د مشهورو حماسو (اېلیاد او اودیسې) لیکوال، دلته له هومره موخه د هغه دا کتابونه دي.

[2] - د مخزېږدو پېړیو یوناني لیکوال هومېر په *اودیسه* کې د کیسې د اتل *اولیس* مېرمنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شارلوته د ډند پر غاړه پر تېټ دېوال ناسته وي، *آملي* چې ماشومه وي، یو ګیلاس اوبه شارلوتې ته راوړي، وایي: «نه! نه! لولوت، دا ته یې چې تر ټولو مخکې باید له دې اوبو څخه وڅښې!» د وېرتېر په زړه کې د آملي د دومره مینې په خاطر چې شارلوتې ته کوم حس پیدا شوی وي، آملي په غېږ کې ټینګه او ښکل کړي، او آملي وژاړي. وېرتېر په دې کار نارامه شي. شارلوته آملي له لاسه ونیسي چې په دې ډنډ کې ولامبي، نو ښه به شي؛ هغه هم په اوبو کې ښه ډېره ولامبي او خپل غومبوري بیا بیا وینځي. وېرتېر لیکي: «[آملي] چې راوخته، بېخي تیار وم چې تندی پر ځمکه ورته کېږدم، سجده ورته وکړم، سم لکه د هغه پیغمبر په مخ کې چې ناست یم چې د یوه ملت له وجوده یې پلیتۍ پاکې کړې وي!»

وېرتېر بیا همدا کیسه یوه عاقل ته وکړي او هغه د شارلوتې دا کار لویه تېروتنه وګڼي، چې باید ماشومانو ته داسې څه ور القاء نه‌شي، ځکه چې دا خرافات زېږوي.

وېرتېر په یوه سفر کې د شارلوتې په سترګو کې بیا ورک شي، ده که هرڅو سترګې پکې ګندلې وي خو هغه دومره ورته ځېره نه‌شي او د وېرتېر له سترګو یوه اوښکه وڅاڅي؛ شارلوته له بګۍ کوزه او کور ته روانه شي، له بګۍ د شارلوتې خولۍ ښکاري، وېرتېر په زړه کې خدایه، خدایه کوي چې ګوندې شارلوتې له شا ورپسې کتلې وي.

هرچېرې چې د شارلوتې په اړه خبرې کېږي او څوک وېرتېر پوښتي، نو ډېر ناراحته کېږي، ځکه چې د بل چا له خولې د شارلوتې ستاینه نه‌شي اورېدای. شارلوته د مېرمن *اېم* کره ولاړه شي. مېرمن اېم ډېره ناجوړه وي، خو مېړه یې ښاغلی *اېم* ډېر خستوز انسان وي؛ یوازې پر پیسو مین وي. ښاغلی اېم د اونۍ اووه فرانکه ورکوي، خو دا د کور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګښت لپاره له سپمولیو پیسو هم پیسې رااخلي.

وېرتېر ګڼي چې د شارلوټې مینه ورسره ده. وايي په رګو کې مې اور بلېږي، که مې یې له ګوتو سره ګوتې ولګېږي یا یې له پښې سره د ډوډۍ پر مېز پښه، ته وا اور راباندې بل شو. څرنګه چې شارلوته ډېره معصومه ده او روح یې پاک دی، ځکه خو نه پوهېږي چې وېرتېر څومره پرې ځورېږي. وېرتېر وايي: چې په خبرو کې لاس پر لاس راکېږدي او یا په خبرو کې رانیژدې شي او آسماني ساه یې پر شونډو راولګېږي... نیژدې وي چې نابود شم. لکه پر وجود مې چې تکه رالوېږي...

نو چې د دې خبرې زړه راکې پیدا شي، فکر وکړم هغه آسماني پاکي او هغه د اعتماد څرګندویه ... بېخي به مې درک کړې، که نه! زړه مې داسې پلیت او فاسد نه دی! خو ډېر کمزوری دی! ډېر کمزوری! او دا ګڼې اخلاقي فساد دی؟

ده ته شارلوته ډېره سپېڅلې ده. د شارلوټې یوه خوږه ترانه زده ده، چې له خپل کلاوسن[1] سره یې وايي، خو دا ساده سندره پکې ژوره اغېزه او قدرت پیدا کوي. وېرتېر احساسوي چې شارلوته یې د ژوند په اړه رښتینې علاقه او پام لري او ګڼي چې د شارلوټې مینه ورسره ده، خو چې شارلوته د خپل خواستګار (البرټ) په اړه په شوق او مینه غږېږي، پر وېرتېر د تورې ګوزار کوي. وېرتېر په لیک کې وېلهېلم ته وايي چې «بې مینې زړه لکه بې بلې ډېوې جادویي فانوس دی، نو چې مازې ولګېږي، پر دېوال سمدوراه ډول ډول انځورونه ښکاره کړي.

یوه ورځ چې وېرتېر په یوه غونډه کې بوخت شي، خپل خادم شارلوټې ته ورولېږي،

---

[1] - د موسیقۍ آله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې نيامت چې يو څوک لږ تر لږه د هغې بوی ورسره راوړلای شي، په ډېره تلوسه خادم ته په تمه وي، ځکه چې د هغه پر جامو، تنيو او جلېق (چپنې) به د شارلوتې سترګې لګېدلې وي. نو دی په دا شېبه په زرو اېکو پيسو دا خادم نه ورکوي. چې هر سهار راپاڅېږي، يوازينی هيله يې همدا وي چې دا (شارلوته) به ووينم.

د وېرتېر له سفير سره ګرځېدل نه خوښېږي اود مور دا هيله يې چې دی د يوې دندې څښتن ووينې، ورته ټوکه ښکارېږي.

په دې ورځو کې يې تخيل کمزوری شوی او له نقاشي سره مينه کمه شوې وي. مګر څو ځله يې د شارلوتې د څېرې په رسمولو ګوتې خوځولې وي، خو شرمېدلی وي؛ د ټول وجود يوازې سکېچ (طرحه) يې کښلی وي او پر همدې يې قناعت کړی وي. په ده د شارلوتې ورلېږلې ليکونه ډېر ګران وي، نو شارلوتې ته وايي «چې ليک دې ليکه، رانجه شګه مه وروباندې پاشه، ځکه، ليک مې دې ښکلاوه، شګې مې تر غاښونو لاندې کرس وکړ.»

وېرتېر هره شېبه پرېکړه کوي چې شارلوته به سبا ته نه ويني، خو چې سبا شي، نو کوم نر به يې راتېنګ کړي!

*البرټ* له سفره راشي، وېرتېر هغه ډېر شريف او په رښتيا د مينې لايق انسان بولي. وېرتېر درناوی ورته لري. خو د البرټ راتګ نور له وېرتېر څخه د شارلوتې په څنګ کې د پاتېدو نېکمرغي واخلي او په ځنګلونو ګرځي. پر وېرتېر اور بلېږي چې البرټ د شارلوتې په څنګ کې ووينې. مګر چې البرټ دندې ته ولاړ شي، وېرتېر په پټه د شارلوتې ديدن ته ورځي. شارلوتې خپل ورونه او خويندې ډېرې په مينه او ښې پاللې وي. وېرتېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



له البرټ سره د انسان پر کمزورۍ بحث کوي او هر یو خپل دلیلونه او مثالونه وایي، خو یو بل قانع نه کړای شي او همداسې دا بحث بېپایلې وي.

کله کله وېرتېر د شارلوتې پر ځای ماشومانو ته ډودۍ ورویشي او هم کیسې ورته کوي او پر ماشومانو یې پر کړې اغېزه حیران شي.

وېرتېر ووېرېږي چې له طبیعته څومره اغېزمن شوی دی او پر دې خبره ځان ته خواشیني شی. نور نو شارلوته په خوبویني، لاسونه پسې اچوي، او ګنې چې په دښتو کې لاسنیولي ګرځي او زر زر واره یې ښکلوي او چې راویښ شي د دردمن زړه د اوښکو سېل یې له لېمو وبهېږي او خپلې تیارې راتلونکې ته ژاړي. تخیل یې کمزوری شي. په خپل «زه» پسې ګرځي.

کله یې زړه وشي چې درېغی ساده کارګر وای، نو به یې یوه هیله وه او خواري به یې کوله. یا غواړي، هغه څوکۍ چې د لوی سفیر تر څنګ ناست وي، ومني او وزیر ته غوښتنلیک ولېږي. پر وزیر ګران او محترم وي. ده ته پوښتنه ورپیدا شي چې ګنې دا حال او د وضعې بدلېدا به له اندېښنې او اضطرابه ورپیدا وي.

د ۱۷۷۱ د اګېسټ ۲۸ مه[۱] یې د زوکړې ورځ وي. له خپلو ښو ملګرو خوابدی وي چې له که څه هم د ده وضعیت یې ښه کولای شو، خو کوښښ یې نه دی کړی. البرټ یوه ډالۍ ورته رالېږي چې په منځ کې یې د شارلوتې هغه ګلابي دسمال وي، چې د وېرتېر او شارلوتې په لومړۍ لیدنه کې شارلوتې پر ټټر غوړولی و، او هم د هومېر دوه ټوکه ژباړلي کتابونه. شارلوتې او البرټ د وېرتېر وړې وړې غوښتنې ښې پېژندلې وي او

[۱] - دا د ګوېټه د زوکړې ورځ هم ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډالۍ وېرتېر ته ډېر ارزښت لري. ځکه چې وېرتېر دا دسمال له شارلوټې څو ځله غوښتی و. نور نو بې شارلوټې بل هېڅ هم خوند نه ورکوي؛ په هر څه کې شارلوټه ورته ښکاري، یوازې هغه څه ویني چې له شارلوټې سره یو څه اړه ولري. دوه یا درې ساعته چې له شارلوټې سره وي، د هغې په خبرو، کړو وړو کې ډوب او له شاوخوا بې‌خبر وي. نور یې په څنګ کې دومره ځورېږي چې ستونی یې ډک شي. په دښتو ځنګلونو او غرونو شي، په اغزنو بوټو کې تېرېږي، چې بدن یې خوږ او ځیرې ځیرې کړي او یوازې ګور ځانته غوره ګڼي.

وېلهېلم د شارلوټې د پرېښون مشوره ورکړې او پینځه‌لس ورځې کېږي چې وېرتېر یې په اړه فکر کوي. شارلوټه ښار ته تللې وي، د یوې ملګرې کره یې اوسېږي او البرټ هم ورسره وي.

د ۱۷۷۱ د سپټمبر ۱۰ مې لیک:

نن یوازې یم، بیا به شارلوټه ونه‌وینم، تر سهاره ساه نشم اخیستای، سهار ته مې سترګې نیولې دي، چې لمر څرک ووهي، د بګۍ آسونه به مې کور ته راورسېږي.

شارلوټې تر تګ مخکې له وېرتېر سره وعده کړې وي چې خامخا به یې لیدو ته ورځي، مازیګر چې دی په رنګارنګ چورتونو کې ډوب وي، شارلوټه له البرټ سره په زینو کې د وېرتېر کور ته وخېژي؛ دی د شارلوټې لاس ورښکل کړي او کېني، ډېره شېبه غلي وي؛ بیا شارلوټه د سپوږمۍ او خپلې مور کیسه وکړي او وېرتېر وپوښتي چې ګنې بیا به هم یو بل ووینو؟ وېرتېر ووایي چې هرومرو به ووینو، که دا دنیا نه وي، نو په بله کې به ووینو... په دې ډول چې شارلوټه دخپلې مور د مرګي او د وروڼو د یسیرکېدا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ته يې د پالنې د ورپه غاړه کېدو کيسه وکړي، خدای پاماني ترې واخلي.

دويم کتاب: ۱۷۷۱ د اکتوبر ۲۰مه:

وېرتېر له وزير سره يو ځای کار پيل کړی وي، خلکويني چې خپلې باتې وهي خو کمال يې زده نه دی. مګر دی له خپل ځواک او وړتياو ناهيلی وي. دی له خدايه غواړي چې درېغی د دومره لورېينې پر ځای يې لږ پر ځان باور او تواضع هم ورکړې وای. لازمه ګڼي چې صبور وي او په دې توګه به کارونه ښه مخته ولاړ شي. له *کونټ دوس* سره ووينې، له هغه سره ډېر ذهني جوړجاړی او ورتهوالی لري او وبله په خلاص مټ د زړه غوټې پرانيستای شي. وېرتېر له وزير څخه دې حال ته رارسېدلی وي چې که يې له پوزې ونيسې، سا يې وځي. ځکه وزير له خپل ځانه راضي نه ښکاري. څرنګه چې دا نادره وي چې وېرتېر خپل ليکلي شيان بيا وګوري او بيا کتل بېخي خوند نه ورکوي، خو وزير يې ورستنوي چې بيا يې له سره وګوري، ځکه چې دويم وار لا ښې کلمې او کره او مناسبې جملې موندل کېږي. دا په دا چې وزير ته بايد هر څه د ليکوالی د علم په لرغوني معمول سبک ليکلي وي، که نه بيا په هېڅ شي سر نه خلاصوي؛ نو ځکه د وېرتېر د هر ډول مخالفت سخت دښمن وي او وېرتېر ته دا کار سمه شکنجه وي. څرنګه چې کونټ دوس د آلمان هېواد له سفير سره کار کوي، د ده هم د سفير له پڅوالي، سوکهوالي او بې‌بريده وسواسه دمه خولې ته راغلې وي. وېرتېر له خپل کارفرما هم ناراضه وي، ځکه چې هغه د ده د ملګري کونت غيبت ورته کوي خو وېرتېر يې دفاع. وېرتېر وايي چې کونت يوازې د اخلاقو په خاطر يې نه، بلکې د علم او پراخو معلوماتو په سبب يې د درناوي سړی دی. وېرتېر له وزير سره دا اوسنی کار د وېلهېلم په مشوره او ټينګار پيل کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې ورځو کې چې وېرتېر پلی مزل کوي، د *مدیموازېل دو بې* سره ویني. هغه ډېره مهربانه، مینه‌ناکه او د طبیعي حالتونو ښتنه ده او له خپلې خاله سر اوسېږي. دې خاله په تاند پېغلتوب کې، چې ښکلې وه، څو زلمي له لارې ایستلي وي او چې عمر یې خوړلی نو له یوه زاړه افسر سره یې واده کړی او هغه هم بیا مړ شوی دی. په دې ښار کې هر څوک ځان نجیب او تر نورو لوړ ښیي او همدا یې کار وي، او دا چاره په وېرتېر ډېره بد لګېږي.

د ۱۷۷۲ د جنوري ۲۰مه، شارلوتې ته لیک:

وېرتېر په ګڼو کارونو کې اوس ورو ورو مړاوی کېږي. نېکمرغي او خوشحالي نه لري. خلک د جادویي صندوق په څېر کوچني او نانځکې ورته ښکاري. د پېغلې دوبې شنې سترګې وي، له هیاهویه ډکې ټولنې څخه یې زړه چوي او له وېرتېر سره په دښتو، ځنګلونو او غرونو ګرځي او بیا په دې ګرځېدا کې دوی د شارلوتې په اړه خبرې کوي او دې ته د شارلوتې په اړه خبرې خوند ورکوي او ورباندې ګرانه هم وي.

شارلوتې ته بل لیک:

په ښار کې هوا او ورځې ډېرې خرابې وي او وېرتېر په دې خوشحاله وي چې څوک یې نه په زحمتوي. خلک ټول د نورو خوښی، روغتیا، روغه سته، آرام او نومنېکي له منځه وړي. د وېرتېر که څه هم له وزیره زړه شین وي او کارونه یې په زړه نه کېږي، استعفا ته تیار شي، خو وزیر بیرته شخصي لیک ورولېږي او د ده د کارونو، پوهې او وړتیا ستاینه وکړي او همدا د وېرتېر «د زلما پېر» وبولي. خو له وېرتېر څخه وغواړي چې خپل دننی شور لږ ملایم کړي او په راتېټولو سره یې ښه اغېزه وښندلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اته ورځې کېږي چې وېرتېر تشویق شوی او له ځان سره پوخلا شوی دی؛ وايي: د روح استراحت او باطني رضايت په رښتيا چې عالي شی دی!

د ۱۷۷۲ د فېبروری ۲۰مه، البرټ ته لیک:

وېرتېر البرټ ته په غوسه وي چې خيانت يې ورسره کړی دی. که څه هم د ځان ځای دويم بولي، خو غواړي د شارلوټې په زړه کې همدا ځای وساتي.

د ۱۷۷۲ د مارچ ۱۵مه، وېلهېلم ته لیک:

وېرتېر وېلهېلم ته ګیله کوي چې د دې دندې منلو ته تا تشويق کړم مګر زما له حال او وضعيت سره برابره نه وه. يوه ورځ يې کونت دوس مېلمه کړي، د دواړو جنسیوتونو ټول ویاړمن، لويان او اشراف‌زاده‌ګان يې وربللي وي د وېرتېر هلته پام شي چې «موږ ساده کارمندان هېڅکله په خپل اصلي موقعيت او ځای کې نه اوسېږو.»

کونت د کور په لوی تالار کې ګرځي او خبرې کوي چې *کلتل دوبې* راورسېږي او بيا ځواکمنه *مادام دو ابس* راننوځي، لور يې ورسره وي او د نجباو پېرې کوي چې د وېرتېر ترې کرکه راځي. په همدې وخت *مَدموازېل دو بې* راشي، خو هغه له وېرتېر سره د نورو ورځو د خلاص مجلس پر خلاف په شرمناکه لهجه غږېږي. نور هم ډېر خلک راشي، خو د وېرتېر سترګې يوازې په مَدموازېل دو بې کې وي او نور مېلمانه د ده ځوابونه لنډ لنډ ورکوي. څرنګه چې خلک ده ته عجيب عجيب ګوري، نو له کونټه خدای‌پاماني واخلي. په ښار کې خپل استوګنځي ته راشي. يوه مېز ته ناست وي چې *آدولېن* راشي او ورته ووايي چې ټول خلک خبر شوي چې جناب کونت درڅخه غوښتي وو له محفله يې ووځې. وېرتېر په دې خبره ډېر خپه شي، فکر کوي چې د خلکو د خندا شو. بله ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه گوښه کې مدموازېل دو بې ووېني او د ها بلې ورځې پوښتنه ترې وکړي؛ دا ووايي چې سل ځله مې زړه وکړ چې دا خبره درته وکړم، په زړه مې سل غمونه تېر کړل، ځکه چې کونت هغه خلک نهشول خپه کولای. مدموازېل دا هم ورته ووايي چې ما دا هر څه لیدل، خو دفاع مې دې کولای نهشوه. دا ټولې کیسې په زړهسواند انداز ورته وکړي چې پر وېرتېر اور بلوي او گڼي چې چا ته چې ما د مولیٰ اهمیت نه ورکاوه، هغوی زما له دې جزا خوند اخیستی؛ وېرتېر فکر کوي چې تر دې حالته ځان په خنجر وهلی ښه دي.

د ۱۷۷۲ د مارچ د ۲۴مې لیک:

وېرتېر دربار ته استعفا وړاندې کړې وي، خو له وېلهېلم سره یې ورباندې مشوره کړې نه وي. له هغه وغواړي چې مور ته یې دا وضعیت ښه وښیي چې هسې نه مور یې خپه شي چې یوازېنی زوی یې د هېڅ لوبې نهشو. له *شهزاده دو* سره یې په دې ورځو کې اړیکې ښې وي او هغه ترې غوښتي دي چې پسرلی له ده سره په پوره آزادۍ د ده په فصلونو کې تېر کړي.

په دربار کې د وېرتېر استعفا منل شوې وي، خو وزیر ته یې خوند نه وي ورکړی او ولیعهد هم له یوه لیک سره د پینځهویشتو *دوکا(Ducats)* معادل عوض ورته رالېږلی وي. نو اړتیا نشته چې مور یې نورې پیسې، هغه چې ده په لیک له مور څخه غوښتې وې، ورته راولېږي. بیرته خپل ټاټوبي ته په شپږ فرسخه[1] واټن کې واړوي. له دې ټاټوبي یې مور د ده د پلار تر مړینې وروسته کډه کړې وي.

---

[1] - فرسخ یا فرسنگ (یو فرسخ = درې مایله) یا د عربو په اصطلاح یو فرسخ ۱۲۰۰ ذراع دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېرتېر د خپل ټاټوبي ډېر ځایونه راکتلي وي، زیاتې خاطرې یې تازه کړې وي. د لویې زیزفون ونې ډډ ته یې دمه کړې وي او پر زړو کورونو یې سلامونه اچولي وي. خو نوې ودانۍ او په هغه ځای کې هر بدلون یې د خولې خوند ورخراب کړی وي. د کور مخې ته له ښوونځي یې پلورنځی جوړ شوی وي. هغه رود ته ورشي چې دوی به تېرې ورویشتلې، چې سوَرې ورباندې په ټوپونو تېرې شي. زاړه یادونه ورپه زړه کړي، تخیل وخوځوي. روحي حالت ورباندې غالب وي، لکه: سود به مې څه وي چې هر زده‌کوونکي ته بیا بیا ووایم چې ځمکه ګرده ده؟ په داسې حال کې چې بنیادم ته همدومره کافي دي چې څو موټیه د خاورو لوټې ولري چې خپله بقا پرې تضمین کړي، واقعیت دا دی چې د بېسا ځان د ویده کولو لپاره تر دې هم کمو خاورو ته اړتیا لري.

وېرتېر اوس له شهزاده سره د هغه په کلیوال کور کې اوسېږي؛ شهزاده ساده او نېک سړی دی خو عجیب خلک ترې چاپېر وي، چې نه چلبازان اېسي او نه هم شریف؛ خو شهزاده یوازې د هغه څه خبرې کوي چې یا چا ورته ویلي وي یا یې لوستلي دي، خو د وېرتېر پر پوهه مین وي؛ مګر [د] زړه [خبرې] ته یې، چې دی خپله پر [خپل زړه] ویاړي او د هر څه، هر ځواک، ټولو نېکمرغیو، بدمرغیو او غمونو یوازېنۍ سرچینه ده، اهمیت نه ورکوي.

د وېرتېر په نظر: پر څه چې دی پوهېږي، ټول انسانان پرې پوهېدای شي خو زړه یې یوازې په ده پورې اړه لري او بس.

د ۱۷۷۲ د مې ۹مه:

وېرتېر غواړي جګړې ته ولاړ شي او له شهزاده سره، چې له جنرال سره اړیکې لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پر دې پټه خبره غږېدلی وي، خو هغه ترې راګرځولی وي.

۱۷۷۲ د جون ۱۱مه:

په دې ځای کې يې زړه تنګ وي، که څه هم شهزاده ښه چلن ورسره کوي. څرنګه چې د شهزاده ذهن بېخي معمولي او عادي دی چې ده ته هېڅ خوند نه ورکوي خو دلته يې زياتې نقاشۍ کړې وي. د شهزاده مصنوعي او فني کلمې نه خوښېږي، خو هنري ذوق يې ښه وي، خو وېرتېر يې د طبيعت حس په وجود کې راويښوي، مګر د «هنر» د تعالۍ حد ته يې لوړولای نه‌شي. نو چې شهزاده ته درک وشي چې فني کلمې يې خبرو ته راغلې دي، ټوله کيسه ورانه کړي.

وېرتېر غواړي ځان شارلوټې ته ورنيژدې کړي. دی ګڼي چې که د شارلوټې مېړه شوی وای، تر البرټه به ورته ښه و. وايي کله چې البرټ د شارلوټې تر ډېرې نرۍ ملا غېږ تاووي، ټول بدن مې وربېږدي. دی مني چې البرټ له شارلوټې سره په ټول وجود مينه کوي. کله کله د وېرتېر زړه ورته وايي چې که البرټ ومري نو دی به شارلوټې ته ورسېږي. وېرتېر اټکل کوي چې پر بل چا به شارلوټه دومره ګرانه نه وي، لکه پر ده چې ده.

چې منی راروان وي، د ده په شاوخوا او باطن کې هم پيلېږي. پاڼې يې په ژېړېدو وي. هغه کس چې پر ځمکواله کونډه مين و، ووينې، هغه اوس له کروندې شړل شوی وي. د هغې کونډې ورور دی په دې خاطر شړلی وي چې که هغه زلمی يې له کونډې خور سره واده وکړي نو د ده د زوی د ميراث برخه به خواره شي، ځکه چې خور خو يې بچی نه لري. د هغه پر ځای نوی نوکر راغلی وي چې ممکن له کونډې سره واده هم وکړي. خو مخکنی مين (نوکر) وايي چې تر څو ژوندی يم، دا کار به ونه‌شي. وېرتېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي: همدا زما د ژوند کیسه هم ده، خو زه د نوکر هومره نر نه یم او آن ځان ورسره پرتله کولای نه‌شم.

۱۷۷۲ د سپټمبر ۵مه:

شارلوټې البرټ ته لیک لیکلی وي چې: «ملګریه، زما ګرانه ملګریه! څومره چې ژر کېږي، راستون شه، په بې‌صبرۍ درته ناسته یم.» دا یادښت وېرتېر ته په لاس ورشي، لږه موده ګومان وکړي چې دا ګنې شارلوټې ما ته لیکلی دی، خو چې شارلوټې ته یې ورياده کړي، د هغې په څېره کې نارضايتي ښکاره شي.

شارلوټه د البرټ له دیدنه راستنه شوې وي؛ وېرتېر یې دیدن ته ورشي، دا یې هم ښه هرکلی وکړي، وېرتېر یې لاس ورښکل کړي. طوطي د نوي مېلمه آواز وکړي. هغه د شارلوټې له لاسه ډوډۍ خوري او پر شونډو یې پسته مښوکه ږدي. طوطي د وېرتېر پر شونډه هم پسته مښوکه ولګوي. شارلوټه د ډوډۍ ټوټه په خوله کې کېږدي او طوطي یې ترې وخوري. وېرتېر وايي چې شارلوټه ولې داسې کارونه کوي او ویده زړه، تخیل او احساسات مې راویښوي. خو بیا پر دې ځان سبانه کړي چې شارلوټه پر ده زیات باور لري.

په سیمه کې مخکنی کشیش او کشیشه مړه وي، نوی کشیش او نوې کشیشه راغلې وي، هغه دوې د غوزانو (چارمغز) ونې یې وهلې وي چې د کلیسا دننه وې. دلته به یې ډېر ته وېرتېر او شارلوټه کېناستل. هغو ونو له کشیشې څخه د لمر مخه نیولې وه او چې غوزان به پاخه شول، ماشومانو به د راشکولو پر مهال شورماشور کاوه چې د کشیشې مراقبه او حضور یې خرابول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۷۷۲ د اوکتوبر ۱۹مه:

وېرتېر د شارلوټې دومره ارمان کوي چې درېغی مازې یو ځل یې په ټټر پورې کلکه نیولې وای، نو به یې په ټټر کې دا ډارونکې خلا ډکه وای.

۱۷۷۲ د اوکتوبر ۲٦مه:

وېرتېر فکر کوي چې د یوه مخلوق ژوند په رښتیا ډېر زیات ناچیزه دی. وېرتېر ته د شارلوټې د وجود نشت هر څه په نشت کړي وي. حیران وي چې داسې ښکلا یې مخې ته ولاړه ده، خو:

لیلا په باغ کې سره منه شوه

نه یې ویشتی شم نه یې باد راغورځوینه

۱۷۷۲ د نومبر ۳مه:

وېلهېلم ته په دې لیک کې وېرتېر لیکي: یوازې خدای پوهېږي چې څو واره په دې نیامت او هیله بسترې ته تللی یم چې نور هېڅ له خوبه راویښ نه‌شم. نو چې په سبا راویښ شم، ځان بدمرغ راته ښکاري. د لېونتوب ارمان کوم. خپل خپل زړه مړ بولي، اوښکې وچې، حواس مضطرب، تندی له ګونځو ډک او ځور ورسره ملګری، تخیل یې بایللی؛ ښکلی طبیعت ورته سوړ، مړ او بې‌روحه ایسي. په وار وار یې ځان پر ځمکه ویشتلی وي چې لږ اوښکې به یې له سترګو وبهېږي.

وېرتېر په شرابو راشي او پوره بوتل غوړپ کوي، خو شارلوټه یې له دې کاره راګرځوي. دی چې د خپلې شارلوټې په اړه فکر وکړي. وایي چې: ته خو زما په روح کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې نو څرنګه فکر وکړم او څرنګه فکر ونه کړم. نور مې ځان له واکه وتلی دی.

وېرتېر ګڼي چې شارلوته لا هم مينه راکوي، دا زهر راته تياروي او زه يې په خوند خوند څښم. شارلوته لومړی ځل وي چې ورته د «ګران وېرتېر» غږ وکړي. وېرتېر وايي چې په وجود کې مې په دې کلمې سره آن د هډوکو په مغزو کې خوښي او خوند احساس کړ. دی وايي چې: څرنګه چې شارلوته د بل ده، نو له خدايه يې ځانته غوښتلای هم نه‌شم.

وېرتېر دا خبره کوي چې شارلوته يې کړېدن او ځور حس کوي او دا هم وايي چې بل فاني موجود زما هومره غم او کړاو نه دی ليدلی.

وېرتېر د شارلوتې په ګوته کې ګوتمۍ ويني، ښې اوښکې يې وبهېږي او له شارلوتې څخه ډېره کلکه هيله وکړي چې د موسيقۍ د آلې وهل ودروي. شارلوته ورته وايي چې ولاړ شه، خو خير آرام اوسه! اوس خو دې آن د خپلې خوښې له خوړو خوا ګرځي. وېرتېر وايي: خدايه ته خو مې دردونه وينې، ته يې په خپله پايته ورسوه!

نور نو چې وېرتېر سترګې مازې ورولي، د شارلوتې تورې سترګې يې په سترګو کې غړېږي.

ګران لوستونکي ته د کتاب د خپرندوی له خوا:

(له دې وروسته د وېرتېر روايت ده ته د نږدې خلکو له خولې د کتاب خپرندوی راټول کړی دی او هم يې د ده موندلي ليکونه او يادښتونه په مناسب ځای کې راوړي دي.)

د وېرتېر په روح کې ناهيلۍ، درد او اندېښنې ژورې ولۍ کړې وې او په وجود کې يې تر پخوا زياتې ځغلولې وې چې ورور ورو يې د ده ټول وجود پوښلی و. ذهني آرامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هماهنګي یې پاکې له لاسه ورکړې وي. دننني اور یې داسې ژبورې لمبې کوي چې د ده ټولې ورتیاوې یوه په بله پسې له منځه وړي. له ټولو خواریو سره سره یې د زړه اضطرابونو وروستنی ذهني ځواک هم وراوبه کړی وي، د ژوند شور یې پکې وژلی او عقل او پوهه یې ترې وېلې کړي وي. وېرتېر په ټولنه کې ستومانوونکی غم ځرګنداوه. ورځ په ورځ بدمرغي ترې راتاوېده او ورسره د بدمرغۍ په احساس کې شېبه په شېبه له عدل او انصاف ډېر لرې کېده. د البرټ دوستان کیسه کوي چې البرټ همدومره درونډ سړی و چې د ژوند ستره شتمني یې تل د خپل ملګري سره یوازې پرېښودله، له کوټې وت، چې هسې نه وېرتېر یې په شتون کې ونه‌ځورېږي. د شارلوټې پلار ناروغ شي، بګۍ راشي او شارلوته ورولي، په سبا یې چې وېرتېر د شارلوټې دیدن ته ورشي او دا نه وي، نو په بل سبا یې سره له دې چې البرټ دا نه‌راولي، خو د وېرتېر په سر شارلوته بېرته کور ته راګرځوي. وېرتېر فکر کوي چې د دواړو ملګرو البرټ او شارلوټې ژوند یې خراب کړی دی او ځان ګنهګار بولي او رټي. بیا یې له البرټ سره د شارلوټې په خاطر په زړه کې کینه پیدا شي.

وېرتېر ته داسې اېسي چې «څرنګه چې شارلوته یې [(د البرټ)]خپله مېرمن ده، نو زه چې ورځم خامخا به یې په زړه کې ما ته کینه پیدا کېږي او اوس یې حسوم هم چې په ناراحتۍ او کړاو مې ویني او زړه یې غواړي چې ترې لرې شم او شتون مې ورباندې بوج او پېټی دی.» چې روان به شو، کله به چټک شو، کله به یې پښه ونیوله، چې ګواکې بېرته ستون شي، خو په همدې ډول به مخ ته پر خپله لار ته. چې د شارلوټې د پلار کور ته ورسېږي. د هغې کونډې ښځې نوی کروندګر وژل شوی وي. مخکښې زلمی کروندګر چې د دې ورور پسې اخیستی او پر دې مین و، او وېرتېر څو واره خبرې هم ورسره کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، خلکو گومان کاوه چې دا نوی کرگر به هم هماغه مخکني زلمي کرگر وژلی وي.

د وېرتېر چې ووینې چې هغه وربانډي گران ځای چې تر هغې ونې لاندې يې خپله مینه پکې لیدلې وه، له ماشومانو سره يې لوبې پکې کړې وې، په تاوتریخوالي اوښتی او په وینو لړلی، نارامه شي او ملال شي. د کلي څو وسله‌وال هماغه زلمی کروندگر راولي. وېرتېر يې وپوښتي چې اې بدبخته ولې دې پر ځان دا حال راوست؟ هغه په سړه سینه ورته ووايي چې «نه به دا بل څوک خپله کړي او نه به دا بل څوک خپل کړي.» وېرتېر ترې لرې شي، ټول وجود يې یو دم د وحشت او تاوتریخوالي په هغه احساس بل خېل شي. یوه شېبه مالیخولیا او زړه‌چاودون ورپیدا شي او له هغې ناهیلۍ، لټۍ او ملالتوبه راووځي. په محکمه کې د قاتل کروندگر ملگري دفاع کوي، خو محکمه يې ونه‌مني او البرټ ووايي چې کروندگر ملامت دی او باید جزا ورکړل شي. د البرټ دا خبرې د وېرتېر په زړه کې لکه ستنې خښې شي او آن البرټ ته يې په زړه کې پټه دښمني هم پیدا شي. وېرتېر په یاداشت کې خپل ځان ته وايي: «اې بدمرغه موجوده! ته له چا سره په ژغورنه کې مرسته نشې کولای/ د چا د ژغورنې وس نه لرې، ښه پوهېږم چې نور مو د ژغورنې امکان نشته.»

د البرټ په اړه يې په یوه یادښت کې لیکلي وي: «زما څه گټه چې ځان ته په وار وار ووایم، هغه شریف او ښه سړی دی! په داسې حال کې چې دا کار مې زړه دوې ټوټې کوي. انصافمنېدای نه‌شم.» شارلوته چې کور ته راځي، هرې خوا ته گوري او د وېرتېر په خبرو پسې يې زړه ختلی وي، د خبرو يې ارمانجنه وي. البرټ له شارلوټې وغواړي چې له وېرتېر څخه ځان راټول او کاته ورسره لږ کړي. خو شارلوته غلې وي البرټ يې حس کړي؛ نو بیا هېڅکله د وېرتېر په اړه خبرې ونه‌کړي. خو دا شارلوته وي چې د وېرتېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسه راپیلوي.

مجرم (زلمی مین کروندګر) له ټولو خبرو انکار وکړي، وېرتېر محکمې ته شهادت ته وروغواړي او ډېر په قهر شي. تېرې ورځې ورپه زړه شي. کمزوری کېږي او ورځ په ورځ زړه خوري. له خپلې د زړه سر، ګرانې او نمانځوړې موجودې سره یې په اړیکو کې یکنواخت دردویني. دننني ځواکونه چې ځپي، ویني چې وحشت ترې کېږي. نه هیله او نه موخه لري.

**(په دې کیسه کې راروان څو لیکونه وروسته موندل شوي دي چې د وېرتېر کیسه پکې بیان شوې ده)**

د ۱۷۷۲ د ډېسمبر د ۱۲مې لیک:

ګران وېلهېلمه، وضعیت مې ډېر خراب دی. داسې لکه شیطان مې چې په رګو رانںوتلی وي؛ زړه مې چوي او ستونی مې کېکاږي. کړاو وینم او په شپنیو وحشي صحنو کې ورکېږم. د ژمي په دې ساړه کنګل کې د شپې په ۱۱ یا ۱۲ بجو د سیند غاړې ته ولاړم. غوښتل مې په خلاصه غېږه په بل اور کې ځان ورواچوم. خپل دردونه او شکنجې وزغمم. ځان په همدې څپو کې وروغورځوم.

۱۷۷۲ د ډېسمبر ۱۴مې لیک:

ګرانه ملګریه! کوم عشق چې زه یې له شارلوټې سره لرم تر ټولو سپېڅلی، سوچه او پر وروری ټینګ نه دی؟ یو خیال راغی چې په غېږ کې یې ټینګه ونیسم او په میلیونونو بوسې ترې واخلم. سترګې مې یې په سترګو کې ورکې شي. ګرانې شارلوټې له منځه ولاړم، حواس مې ګډوډ دي. اته ورځې کېږي چې په بل هېڅ شي کې فکر نه کوم. سترګې مې له اوښکو ډکې دي. هېڅ ځای، ځای نه راکوي. ارمان مې دی چې نور خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوټه پر اوږه کړم.

روایت: وېرتېر مرګ ته تیار دی، خو په وحشت ځان نه وژني. غواړي په ټینګه عقیده او سنجولي آرام عزم سره دا کار وکړي. نور نو مرګ ته په خوښۍ غېږ ورکوي او خپل ملګري ته په دوو لیکونو کې چې په کنایه لیکل شوي، دا نقشه بیانوي:

د ۱۷۷۲ د ډېسمبر د ۲۰مې لیک:

ګرانه ملګریه، د ملګرۍ دې منندوی یم. چې راته وایې درستون شم، ښه وړاندیز نه دی. غواړم څه وخت نور هم وګرځم، په تېره په هغه شېبه کې چې اوږدمهاله کنګل او ښکلو واټونو ته هیله‌من اوسېدای شو. تا چې ویلي، راپسې راځې، ښه خبره ده. خو پینځه‌لس ورځې نور هم ودرېږه، زه بل لیک درلېږم. مور ته مې ووایه چې دعا راته وکړي، ډېره رانه ځورېدلې ده. ښښه ترې غواړم. دا به مې برخلیک وي چې د ډېرو، چې د نېکمرغۍ لامل یې کېدای شوم، د ځور سبب شوی یم. خدای پامان ملګریه.

**روایت:**

کرېسمېس ته یوه اونۍ پاتې وي، شارلوته وېرتېر ته ډالۍ جوړې کړي؛ وېرتېر هم وروړسېږي او دا ورته وایي چې «تا ته به هم ډالۍ درکړل شي- یوه ډېوه او یوه بله هم ورسره. خو خیر دی تاسې عاقل او آرام اوسئ!» (وېرتېر په غوسه شي چې دا خبره څه مانا؟) شارلوته خپله خبره پسې وغځوي:«خو تر هغې پورې باید ته رانشې؛ او باید همداسې وشي. نور نو دوام نشي کولای!» وېرتېر له ځان سره تکراروي چې «نور نو داسې دوام نشي کولای!» شارلوته چې هرڅومره خواري وکړي، پوښتنې ترې وکړي، د وېرتېر له دې احساسه راایستلای نه‌شي او د هغه پر خوله همدا خبره تکرارېږي «نور نو دوام نشي کولای!». وېرتېر چیغه کړي چې «نه شارلوټې! زه به دې نوره ونه‌وینم!؟» شارلوته زارۍ ورته وکړي چې «ته خو پر ځان واکمن شه، آرام شه.» د وېرتېر لاس په


(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسونو کې نیسي او ورته وايي چې «ولې داسې کوئ؟ زه د بل یم. همدا زما د خپلولو ناممکن وضعیت زه ستاسې په سترګو کې دومره جذابه او ښکلې برېښولې یم!»

وېرتېر لاس ترې لرې کوي او ناره کوي: «څومره پوهه، څومره هوښیاري! ښايي دا نظر دې البرټ درته ویلی وي! څومره سیاستوال چلن! آه، په رښتیا څومره له سیاسته ډک چلن!» شارلوته ترې وغواړي چې «لږ وګرځئ، تر ما به ځان ته ستا د مینې ډېره وړ ښځه پیدا کړئ. بیا به ټول نېکمرغه یو! او ډېر خوند به ترې واخلو!»

وېرتېر موسک شي «دا مطلب چاپولای شو او ټولو ښوونکو ته يې سفارش ورکولای شو. آه، شارلوټې! بیا هم ما ته یو څه موکه راکړئ: هر څه به سم شي!»



شارلوته ترې غواړي چې «د نوبل عید (کرېسمېس) تر شپې پورې مه راځه وېرتېره!» چې وېرتېر ځواب ته خوله جوړوي، البرټ رانوځي. وېرتېر ورسره ساړه او بېخي کنګل سترې‌مشي وکړي، دواړه له یو بله ځورېږي. وېرتېر د ماخستن تر اتو بجو هلته پاتې شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د خوړو پر مېز خواړه کېښودل شي، وېرتېر خپله خولۍ او لکڼه راواخلي؛ البرټ سوړ رنګ ورته وکړي او دی هم سړه مننه ترې وکړي، کور ته ولاړ شي؛ په چیغو چیغو وژاړي او په زوره زوره له ځان سره غړېږي. د دوشنبې په سهار د ډېسمبر په ۲۱مه ښارلوټې ته دا لیک ولیکي:

«ګرانې شارلوټې، چې له تاسو راغلم، زړه مې ډک و، له ځانه بېخوده وم. بیا مې پرېکړه وکړه چې له ژوند سره مخه‌ښه وکړم. کله کله مې فکر کاوه چې په موږ درېیو کې باید یو له منځه ولاړ شي. تر اوسه مې ټینګ هوډ شته چې له ژوند سره خدای‌پاماني وکړم.»

وېرتېر خپل خدمتګار ته ووایي «چې له چا سره مې کتابونه دي، ترې راټول یې کړه؛ کومو بېوزلو ته مو چې پیسې ورکولې، ورېې کړه. د سوداګرو او دوکاندارانو حساب وغواړه.» مازدیګر پینځه بجې وي چې کالي او کتابونه یې په یوه لوی صندوق کې ښه منظم کېږدي. شارلوټې ته په همدې وخت د لیک وروستۍ کرښې لیکي چې:

«ته به آرامه او بېغمه وې، زه به د کرېسمېس اختر ته درنه‌شم او ستا د امر اطاعت به وکړم. شارلوټې نن، یا هېڅکله، د نویل په شپه به ته دا لیک په خپل لاس کې ونیسې، وبه رپېږدې، په ګرانو اوښکو به یې دې لوند کړې! همداسې مې زړه دی! پکار هم ده! آه، په رښتیا څومره خوشحاله یم چې بالآخره مې خپله پرېکړه وکړه!»

شارلوته هم اندېښمنه وي، البرټ ته ووایي چې تر اختره به وېرتېر رانشي. البرټ هم پر آس سپور شي او د سبا کار یې پیل کړي. شارلوته له ځان سره چورت وهي چې څومره نېکمرغه او ښه مېړه مې دی، وفادار او ښه انسان. بلې خوا ته پر شارلوته وېرتېر ګران

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. کاش چې ورور کولای یې شو. خپل ټول خپلوان په ذهن کې تېر کړي، خو یو یو منفي ټکی پکې ومومي؛ ځکه خو هېڅوک د وېرتېر وړ ونه‌ویني. په روح یې دا احساس غلبه وکړي چې د ځان لپاره یې وساتي. په همدې وخت له زینو د وېرتېر د راتګ غږ وشي؛ شارلوته ورته وايي چې «هغه قسم دې څه شو؟» وېرتېر وايي «ما خو قسم کړی نه و!» شارلوته وايي «لږ تر لږه خو به دې زما د غوښتنې درناوی کړی و او ما دا غوښتنه زموږ دواړو د آرامۍ لپاره کړې وه.» شارلوته خپله خدمتګاره په خپلو ښځمنو ملګرو پسې ولېږي، خو په زړه کې کله وايي چې کاشکې رانشي. خدمتګاره چې راشي وايي «د نه‌راتګ ښښنه یې وغوښته!» وېرتېر د شارلوتې ځینې په امانت وړې کتابونه ورته راوړي او نوي نور کتابونه ترې وغواړي. په کتابونو کې د «اویسان» د شعر کتاب وي چې په خپله وېرتېر ژباړلی وي، د شارلوتې په غوښتنه یې وېرتېر راواخلي او شعر یې ورته ولولي:

کولما[1]: خپل ګران ملګري سالګار ته لیک دی چې د دوی دواړو پلرونه د یو بل دښمن خو دوی وبله ملګري وي او بیا سالګار د ده ورور وژلی وي؛ خو دی په دواړو پسې خپه وي - په خپل مړه ورور او تللي سالګار پسې.

مینونا[2]: مینونا ته په لیک کې (چې مینونا مهربانه نجلۍ وي) د *اولین* او *آلیَن* د موسیقۍ او ښو ورځو او نورو ملګرو د مړینې او غم یادونه کوي.

---

[1] - دا د شعر د پاړکي نوم دی.

[2] - دا د شعر بل پاړکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راینو[۱]: له رود سره په خبرو کې د خپل خواره ملګري *آلپن* چې ښه سندرغاړی و، په دې پاړکي کې یې د زمزمو یادونه کوي.

آلین[۲]: راینو ته لیکي: چې *مورارو* ووړ ووړ جوړشوی اندام لاره. ښه توره یې وهله او غړ یې په بېلکو[۳]، ژیو او غرونو کې د هیبت انګازې کولې. په جګړه کې خشمېدلی او په ناسته ولاړه کې آرام او سنګین و. «خو ته شومره لوی وې، مګر ټول ګور دې زما څلور ګامه کېږي.» مورارو ترانې ویلې، پلار یې همدا یو زوی لاره.

په دې لیک کې مورارو د خپلو زامنو او لور د مړینې کیسه کوي چې څرنګه د ده تر سترګو لاندې بلې دنیا ته ولاړل او اوس هماغه کمر ته ګوري چې هلته یې د بچیو ساوې ختلې، د دوی ارواوېویني. *آرېندال* او *آرمین* یې زامن وي او *دورا* یې لور. *آرماز* د دورا مین وي. *ابرات* چې دورا یې تښتوله، آرېندال یې ونیسي او په ونه پورې یې وتړي. د دورا ژغورلو ته ورودانګي، خو آرمار یې په غشي وولي او ومري او بیا آرمار د سیند څپې لاندې کړي او دورا هم د خپلو سترګو مخ ته په اوبو کې نارې وهي، ژاړي او له غمه ومري.

دا د اویسان شعر وي چې وېرتېر یې شارلوتې ته ووایي او د هغې له سترګو د اوښکو نېز راوبهېږي. وېرتېر د خپلې مینې خوارۍ او ماته ویني. شونډې او سترګې یې د شارلوتې پر متو کېښودل شي، هغه وسوځوي. مګر له وېرتېره وغواړي چې نور شعر هم

---

۱ - دا د شعر بل پاړکی دی.

۲ - دا د شعر بل پاړکی دی.

۳ - د سپینو یا شنو تیږو هسک هسک کمرونه یا د غرونو کمري څوکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ووايي.

«د مړاويتوب وخت مې رارسېدلی، ژر به مې سيلۍ پاڼې وربژوي. هغه څوک به راشي، چې زه يې د ښايست په اوج ليدلی يم. شاوخوا به سترګې واړوي، خو زه به د تل لپاره تللی يم.» وېرتېر د شارلوتې لاسونه ونيسي او پر خپلو سترګو او تندي يې ټينګ کېږي. د شارلوتې روح دې ته د وېرتېر د موخې الهام ورکړي. شارلوته يې هم لاسونه ونيسي، خپل ټټر ته يې نيژدې کړي، ځان ورمات کړي، د شارلوتې سوځوونکي انګې د وېرتېر پر انګو ولګېږي. له وېرتېره د هستۍ عالم ورک شي. وېرتېر شالوته په غېږ کې ونيسي، په زړه پورې يې ټينګه کړي او د دې رېږدېدونکي شونډې چې نامفهومه خبرې بيانوي په قهرجنو بوسو وپوښي.

شارلوته لومړی په کمزوري غږ وايي: «وېرتېره! وېرتېره!» او په کم زور يې له ځانه لرې کړي او بيا په کلک او تر ټولولو شريف احساس ناره کړي: «وېرتېره!» وېرتېر يې هم بې له کومه مقاومته خوشې کړي او ځان يې په پښو کې وروغورځوي. شارلوته ناڅاپه ودرېږي؛ د مينې او قهر د احساساتو ترمنځ ايساره وي: «وېرتېره دا مو وروستنی ديدار و! بيا به مې هېڅکله ونه‌وينې!» بلې کوټې ته ترې ولاړه شي، ځان هلته بندي کړي. وېرتېر نيم ساعت هماغسې پر غولي پروت وي. بيا د شارلوتې د کوټې وره ته ورشي، ورو ورغږ کړي چې: «شارلوتې! شارلوتې! خير يوه بله کلمه، يوه بله خدای‌پاماني!» خو د شارلوتې غږ رانه‌شي، وېرتېر په وره کې لږ دم ودرېږي، خو چې شارلوته غږ ونه‌کړي نو په ډېر کړاو ناره کړي: «خدای پامان شارلوتې! د تل لپاره خدای پامان!»

(c) ketabton.com: The Digital Library





وېرتېر له کوره ووځي، غره ته ولاړ شي، د شپې په یوولس‌نیمو بجو کور ته راشي، کالي يې لانده وي، خولۍ يې نه وي. بیا يې خلک پیدا کړي چې د کمر پر سر ترې پاتې وي او خلک حیران وي چې وېرتېر په دې توره شپه، په دې واوره کې څرنګه د کمر سر ته ختلی او لاندې رغښتی نه دی! په سبا يې وېرتېر په لیک لیکلو وي او له خدمتګار څخه یو ګیلاس قهوه وغواړي. شارلوټې ته لیکي: «وروستنی وار دی، د وروستي ځل لپاره سترګې پرانیزم! افسوس  چې بیا به هېڅکله زما سترګې لمر ونه‌ویني. دا وروستنی سهار دی. وروستنی، شارلوټې! خو زه د وروستني د کلمې په اړه هېڅ تصور په ذهن کې نه لرم؛ په داسې حال کې چې لا ښه واکمن یم. چې د مړینې خبره کوم، یوازې خیالونه کوم... ما د ډېرو مړینه لیدلې، خو بشر دومره محدود دی چې په خپل ذهن کې يې د ژوند د پیل او پای هېڅ مفکوره نشته. نه د له‌منځه‌تګ په معنا پوهېږم. مړینه، له‌منځه‌تګ، مړی، خاورو ته سپارلی، ښخ تابوت – هېڅ درک يې په اړه راسره نشته.» وېرتېر بیا وايي : «چې په غېږ کې مې ونیولې، چې بوسې مې درنه واخیستې، او چې د مینې کلمې مو سره وویلې، یو بل ژوند و، یو آسماني خوند و او ما ستا مینه حس کړه. زه به ولاړ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغې دنیا کې به دې په تمه یم، ته زما یې، زه مې خپل پلار او ستا مور ته ورځم. دوی به ما ته طاقت او ډاډ راکړي. ته مې چې په غېږ کې ونیولې، نو زما شوې، چې هغې دنیا ته راشې، مخې ته به دې درشم او دومره واره به دې په غېږ کې ونیسم چې پای نه لري. له تا سره به په ابدي اړیکه پاتې شم. زه نه په خوب یم او نه اِلاګویۍ (هذیان) کوم. هلته به دې مور ووینم چې ستا بشپړ تصویر دی او د زړه خواله به ورسره وکړم، خپل زه به ورته تش کړم.»

وېرتېر خپل خدمتګار وپوښتي چې البرټ راغلی که نه؟ هغه ووایي چې هو، پر آس یې لیدلی! نو لیک ورته ولیکي او ورباندې وکاږي چې «ستا توپانچې مې امانت پکار دي. د یوه سفر نیت مې کړی! خدای دې مل شه! همېشه روغ اوسې!»

د شارلوټې پاک روح په دې کشاله کې وي چې څرنګه د دې او وېرتېر ترمنځ شوې پېښه البرټ ته ووایي او څرنګه وېرتېر هېر کړي. او البرټ خو د وېرتېر پر ځانوژلو باور نه‌شي کولای او وایي چې هغه زلمی به هېڅکله دا کار ونه‌کړي او همدا خبره د شارلوټې زړه لږ آراموي. البرټ چې کور ته راورسېږي، ډېر ډاګونه راغلي وي. شارلوټ خپل لاسي کار ورسره واخلي او د البرټ دفتر ته روشي؛ په زړه کې یې زر سواله زر اندېښنې وي، اوښکې تېروي؛ خو نه پوهېږي چې څرنګه خپل شوم احساسات او د تېرې شپې پېښه البرټ ته ووایي. د وېرتېر خدمتګار راشي، لیک ورکړي، البرټ هم شارلوټې ته ووایي چې توپانچې ورکړه؛ ښه سفر ورته غواړم. د شارلوټې پر زړه غمې ګډې شي؛ د وسلو په ورکړه او پاکولو ځنډ کوي، چې البرټ د پوښتنې په نښه وروګوري، نو وسلې خدمتګار ته ورکړي او رخصت یې کړي.

وېرتېر وسلې واخلي او د نوکر د کیسې پر بنسټ چې شارلوټې ورکړې دي، هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکې کړې دي او ځنډ يې ورباندې ايستلى دى، نو څو ځله هغه وسلې ښکل کړې او شارلوټې ته په ليک کې وليکي: «زما پرېښتې، چې خداى‌پاماني دې رالېږلې نه وه، پر ما دې لکه چې د زړه ور ترلى دى؟ تا په دې وسلو او کار زما مرګ آسانه کړ. خو ته به هېڅکله هغه چا ته په زړه کينه ونه‌ساتې چې ستا لپاره دومره کړېږي!» وېرتېر بيا وېلهېلم ته وليکي: «زما ګران ملګرى وې. دا مې وروستى ليک دى. مور ته مې ډاډ ورکړه، [وېلهېلمه] ګوندې خداى دې وبښي!»

وېرتېر خپل پورونه تصفيه کړي او ځينې اسناد وسوځوي. د سفر توښه تياره کړي. البرټ ته وليکي: «ستا ملګرتيا مې په بد ډول ځواب کړه. ستاسې هوسايي مې له منځه يوړه، ستاسې تر منځ مې باور خام کړ. خداى پامان! همد اوس دا وضعه پايته رسوم! آه، ګوندې زما مړينه ستاسو د نېکمرغۍ لامل شي! البرټه! البرټه! دغه آسماني پرېښته خوشحاله او نېکمرغه وساته... چې د خداى رحمت درباندې وشي!»

وېرتېر خپل ټول اسناد وپلټي، ځينې ليکونه وېلهېلم ته مُهر او موم کړي، ځينې اسناد وسوځوي. په لسو بجو يې نوکر ويده شي، چې سبا تر شپږو بجو مخکې يې د ارباب آسونه تيار وي.  دى په يوه ليک کې شارلوټې ته ليکي: «شارلوټې، لوى قادر تاسې په خپله سينه کې ځاى کړي يئ، لکه ما چې تاسې په خپله زړه کې لېږدوئ. ستا چې پر کومو شيانو لاس لګېدلى و او هغو ته دې سپېڅلى ماهيت ورکړى و، لکه ماشوم مې څو څو واره ښکل نه کړل؟ اې ګرانه د زړه سره آسماني مخه! زه هغه د يوه ميراث په توګه تا ته دربښم. له تا غواړم چې حرمت يې خوندي وساتې؛ پر هغو مې زرګونه زرګونه بوسې نقش کړې دي. په زرګونو ځله مې چې له کوټې به وتم، پر هغو درود ويلى دى! له پلار څخه مې دې په يوه ټوټه ليک کې غوښتي چې قبر ته د ټيټولو تر پايه مې د وجود ملتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي؛ د لارې پر سر مې ښخ کړئ، چې که کشيش پرې تېرېږي، نښان ورباندې کېږدي! څوک اوښکېورباندې تويې کړي او څو ايماندار مسيحيان مې څنګ ته ښخ شي. که ستا له لاسه د مرګ جام وڅښم، وروستۍ هيله به مې پوره شي، دا مهرباني پر ما وکړه. خو دريغی چې ستا لپاره قربان شوی وای، تا ته مې د ژوند خوندونه دربښلي وای. غواړم په همدې اغوستيو جامو کې خاورو ته وسپارل شم. شارلوټې ستا لاسونه پرې لګېدلي او متبرک شوي دي. او دا لورېينه مې ستا له پلاره هم غوښتې ده! هغه ټکری چې د مخ په رنګ (ګلابي) و او زموږ په لومړۍ ليدنه کې دې پر ټټر غوړولی و، د دې بدمرغه دوست کيسه دې ورته وکړه او هيله کوم راسره ښخ يې کړئ. هغه دې زما د زوکړې په ورځ راته ډالۍ کړی و، آه څومره مې بوی کړی! آرامه اوسه، هيله کوم آرامه اوسه! توپانچې ډکې دي! د نيمې شپې نغاره اورم، ګوندې څه چې کېږي، وشي! شارلوټې! شارلوټې! خدای‌پامان! خدای دې مل شه!»

ګاونډی په شپه کې د ډز غږ اوري، خو چې هر څه آرام وي، بېرته ويده کېږي. د سبا سهار شپږ بجې چې نوکر ورځي، وېرتېر پر ځمکه پروت وي؛ لا سا ور کې وي. ډاکټر راخبر کړي او د البرټ کور ته پيغام وروړي، خدمتګار په ترټرې پېښه ورته بيان کړي. شارلوته بېسده شي او د البرټ له پښو سره پر ځمکه راولوېږي. ډاکټر چې وېرتېر وګوري، نبض يې وي، خو وجود يې فلج وي. وېرتېر د ښۍ سترګې پاس پر تندي ځان په توپانچه ويشتلی وي او ماغزه يې باد شوي وي. ډاکټر يې د لاس حجامت وروکړي، خو زياتې وينې ترې ولاړ شي او پوه شي چې د مېز کار ته ناست يې ځان ويشتلی دی. لا يې زګېروي وي. وېرتېر جامې پوره اغوستې وې، موزې په پښو، آسماني شين پتلون، ژېړ جېلک يې اغوستي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البرټ او شارلوته راورسېږي، البرټ په غم او اندېښنه او خپګان کې وي او شارلوته ناهيلې، دومره چې بيانېدای نه‌شي. بوډا چې کارونه مخته وړي، له زامنو سره راوسېږي، وېرتېر پر تندي ښکل کړي. دوی دومره ډېر خپه وي چې حد نه لري. د وېرتېر لاسونه او پښې ښکل کړي.د هر يوه له وجوده سېک ختلی وي. وېرتېر پر ټولو ګران وي. وېرتېر د دوی په مخ کې ساه ورکړي او کوچنی ماشوم په سختۍ ترې رابېل کړي. وېرتېر په غرمه له فاني نړۍ کډه وکړه. وېرتېر چې څرنګه وصيت کړی و، سپين‌ږيري او زامنو يې هماغسې په هماغه ځای کې خاورو ته وسپاره او د ده جنازه يې وکړه. په البرټ کې هېڅ سېک نه و. ټول د شارلوټې ژوند ته اندېښمن وو او وېرېدل چې هغه هم ونه‌مري. روزمزد کارګرو د وېرتېر جسد د قبر تر ځايه يوور، خو يوه کشيش يې هم جنازه ونه‌کړه.

پای



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «ځوان وېرتېر دردونه» کې د گوېټهويناوې

**لومړی کتاب:**

۱۷۷۲ د مې ۴مه:

آه، په رښتيا چې بشر څرنگه يو موجود دی چې آن له خپل ځانه گيله کوي.

★★★

انسانان به درد او کړاو بېخي کم وځوروي، هله (خو د عالميانو خدای پر دې خبره ډېر ښه پوهېږي چې ولې دوی دا وړ دي...) چې د خپل تخيلي ځواک له ټول قدرته د خپلو دردونو او غمونو د خاطرو په يو بل پسې رايادولو او ورباندې تېرېدلو لپاره کار وانخلي او پر ځای يې د حال زمان ته، چې دوی ته هېڅ معنا نه لري، غاړه کېښږدي او وزغمي...

★★★

ښه مې وليدل چې وران پوهاوي، لټي او بابېځه کارونه په عالم کې تر چل ول، ټگۍ، تزوير او شرارته زياته گډوډي رامنځته کوي .

★★★

دا بې د مسلکي او متخصص بنوال د گوتو برکت نه دی بلکې نخچه يې د يوه حساس زړه په وسيله کښل شوې؛ هغسې موجود جوړ کړی چې غوښتل يې له هغه ښه په خپله خوند واخلي او د ښکلا څکه يې وکړي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۷۱ د مې ۱۰مه:

د هغه لوی ځښتن حضور احساسوم چې موږ یې د خپل تصویر پر پله پیدا کړي یو او د هغه خدای سا احساسوم چې ټولورباندې ګران دي او تل موږ پر مخ بیايي او موږ د ابدي خوندونو د سیند پر سر لامبېدونکي ساتي.

★★★

۱۷۷۱ د مې ۱۳مه:

له خپل زړه سره د کوچني ناروغ ماشوم غوندې چلن کوم؛ په هر څه کې یې امر ته غاړهږدم .

★★★

۱۷۷۱ د مې ۱۵مه:

کوم وګړي چې ځانګړی مقام یې په برخه دی، له خپلو لاس‌لاندې خلکو څخه لرې لرې ګرځي، داسې چې ته وا ډارېږي که ورنیژدې شي خپل ډېر شیان به یې له لاسه ووځي او همغومره کمعقلان دي او همغومره شوخه او شروره طبعه لري چې یوازې په دې خاطر ټیټو او لاس‌لاندې وګړیو ته ورنږدې کېږي چې هغوی د خپلې ژبې په ټک تر پخوا زیات وکړوي او وځوروي...

★★★

۱۷۷۱ د مې ۱۵مه:

دا مې عقیده ده، څوک چې دا خپله وظیفه ګڼي چې له هغو وګړیو چې عموماً د «عوامو» په نامه یادېږي، ځان لرې وساتي، له هغه ډارن سره هېڅ توپیر نه لري چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګ له وېرې ځان له دښمنه پټ کړي .

★★★

۱۷۷۱ د مې ۲٦مه:

یوازې او یوازې طبیعت دی چې ناختمېدونکې شتمني لري! یوازې طبیعت دی چې له نقاشه لوی هنرمن جوړولای شي!

★★★

کوم سړی چې قوانینو او مقرراتو ته درناوی کوي، هېڅکله به د ریشخنده ډک یا بېمعنا او یا بېخي بد څه ونه پنځوي!

★★★

هر رښتینی احساس د طبیعت مرۍ زندۍ کوي او هغه غوړېدا او حقیقي څرګندتیا ته نه پرېږدي.

★★★

۱۷۷۱ د مې ۳۰مه:

کوم څه مې چې د نقاشۍ په اړه وویل، کټ مټ د شاعرۍ د هنر لپاره هم رښتیني دي. بس همدا بسنه کوي چې کوم څه چې ښکلي دي، ویې مومې او ویې پېژنې او بیا دا زړه درکې پیدا شي چې بیان یې کړې؛ واقعیت دا دی چې دا [شعر] په ډېرو لږو کلمو کې د ډېرو زیاتو شیانو د ویلو معنا لري.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۷۱ د جون ۱٦مه:

دا اړینه بولم، لږ تر لږه کوم کتاب چې وایم، په سلیقه مې ښېخي برابر وي، هغه لیکوال مې خوښ دی چې ما په هغه دنیا کې گرځوي چې پکې اوسېږم او څه مې چې شاوخوا دي، انځوروي يې؛ هماغه چې لیکنې يې زما د زړه پام وروگرځي او علاقه يې ورسره پیدا شي، او همغومره چې حقیقي ژوند مې ځان ته ورکاږي، ځان ته مې وروکاږي او خپل مې کړي.

★★★

۱۷۷۱ د جون ۲۱مه:

راتلونکی، کټ مټ له ټاکلي ځایه د لرې کېدو غوندې دی.

★★★

کله چې کوم څه لرې پراته وي، رانیژدې کېږي او لاسته مو لوېږي، راته جوتېږي چې هېڅ هم نه دي بدل شوي او بېرته وینو چې په هماغه درد او بدمرغۍ کې ښکېل یو... او بل ځل مو روح د هغې نېکمرغۍ په هیله سوې سوې چیغې پیل کړي چې لږ مخکې يې له لاسه وتلې .

★★★

په پای کې آن تر ټولو ناکرار آواره هم د خپل ټاټوبي لپاره آه کوي او په خپله جونگړه کې د خپل ژوند د ملگري په خوا کې، د خپلو بچیانو په منځ کې، چې د دوی لپاره د یوې مړۍ د موندلو لپاره خواري کوي، هغه خوندونه مومي چې په دې آرته او لویه نړۍ کې يې بېځایه په لټه ځان ستړی کړی و!

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۷۱ د جولای لومړۍ:

موږ ډېر وخت په ګيلو او مانو خوله خلاصه کړې وي، او دا وايو چې ښې ورځې مو بېخي کمې په برخه شوې، خو برعکس يې بدې ورځې ښې په پېخرو دي! مګر ما ته داسې ښکاري چې ډېر کله په ګيلو او شکايتونو کې بې‌انصافي کوو! په داسې حال کې چې زړه مو تل د هغو ښېګڼو او خير شکر ايستلی چې هره ورځ يې لوی خدای را په برخه کوي، هله به زورور ځواک ترلاسه کړو چې کله کله بدي راورسېږي او موږ يې وزغمو.

★★★

زموږ د طبعې له لتې سره بېخي ډېره جوړه ده؛ خو که د هلو ځلو قدرت راکې وي، هر کار ډېر آسانه او هوسا ترسره کېږي او په رښتيا په هغه فعاليت کې رښتينی او ښکاره خوند مومو.

★★★

کوم څه چې انسان او نورو ته زيان اړوي بداخلاقي يا اخلاقي فساد دی.

★★★

بدخُلقي له خپل ځانه يو ډول نارضايتي ده. د دې نارامۍ سرچينه د ځان د نااررزښته ګڼلو په احساس کې ده. يو ډول د زړه څـْــوَب او له ځانه کرکه ده چې حسد هم ورسره غوټه شوی او د لېوني ځانمينتوب په وسيله پارېدلي دي.

★★★

۱۷۷۱ د جولای ۲۰مه:

څوک چې پر ځان دا سختي يا کړاو راولي چې ځان ته وياړ وګټي او له تاسې سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې شي مرسته کوي چې اړتيا ورته نه لرئ، يا پيسې درکوي او يا په خپله شخصي علاقه کوم شی درته اخلي، په رښتيا چې کمعقل سړی دی...!

★★★

۱۷۷۱ آگېست ۱۲مه:

دا مې زده کړل او څومره چې ممکنه وه پوه شوم، کله چې کوم خارق‌العاده وګړي پر لوی او داسې کار چې بېخي ناممکن برېښېده، لاس پورې کړی، عامو مست او نامنطقي موجود بللی دی.

★★★

هلې ځلې او خواري کول د قدرت او زور نښه ده.

★★★

موږ يوازې هله پر يوه شي د قضاوت کولو وړتيا لرو چې د نورو په احساساتو کې ځان شريک کړای شو.

★★★

بشري طبيعت محدود دی. واقعيت دا دی چې يوازې په ټاکلې کچه ښادي، کړاو او درد زغملای شي؛ او چې له دې ټاکلې کچې واوښت، تسليمېږي.

★★★

۱۷۷۱ آگېست ۱۵مه:

دا بېخي رښتيا ده چې په دې نړۍ کې يوازې او يوازې مينه موږ د ژوند لايقوي.

★★★

کله چې يوه پېښه وپنځوم، او بيا يې بيا بيانوم، او د هېرتيا له امله مې د هغې ټاکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښې یادونه هېره شي، نو سمدواره راچیغې کړي: «لومړی ځل دې دا برخه بل خپل بیان کړې وه!...» داسې چې تازه په تازه چې کومه کیسه ورته کوم، اړ یم چې د هغې دعا غوندې یې ورته ووایم چې چا په یاد کړې وي: په هماغه غاړه، په هماغه معمول غږ او بې له دې چې په کیسه کې مازې کوچنی بدلون راولم! په دې کار سره ښه راته معلومه شوه چې کوم لیکوال د خپل کتاب په دویم چاپ کې څرنگه په خیالي ماهیت سره غواړي بدلونونه راولي، هرومرو د کتاب د ویجاړۍ لامل کېږي! ان که سل ځله یې په دې نیامت هم وکړي چې د خپلې لیکنې شاعرانه ارزښت لوړ کړي!

★★★

۱۷۷۱ آگېست ۱۸مه:

تر ټولو معصومه او بېگناه گرځېدا د زرونو وړو او بېچاره چینجیو ژوند اخلي! ستا یوازې یو گام د مېږیانو زښت زیاتې خوارۍ نېستې نابودې کوي او په له شرمه ډک گور کې کوچنۍ دنیاگۍ په ځمکه نناسي...

★★★

**دویم کتاب**

۱۷۷۱ اکتوبر ۲۰مه:

داسې جوړ شوي یو چې هر څه ته د خپل ځان د گټې پر بنسټ گورو او بیا ځان له نورو ټولو شیانو سره تلو، پایله یې دا شي چې په ټولو شیانو کې چې ورته گورو، نېکمرغي یا بدمرغي ځای نیسي، نو په دې خاطر تر یوازېتوب بل هېڅ بد او خطرناک شی نشته!

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تخیل د ځواک غریزي غوښتنه دا ده چې مخ په بره روان وي او د شاعرۍ په هنر کې پر پرتو انځورونو او خیالځغلونو خړوبېږي؛ د موجوداتو داسې نظام رامنځته کوي چې موږ یې په زینو په تر ټولو ټیټه پوړۍ کې یو، په هغه ځای کې چې زموږ تر وجود بهر هر څه تر موږ اوچت ښکاري او هر څه تر موږ بشپړ. او دا خو ښېخي طبیعي خبره ده چې ډېر وخت داسې ګڼو چې له ډېرو شیانو بې‌برخې یو او داسې ښکاري کوم شی چې موږ ته رارسېدلی نه دی بل یې څښتن دی. بیا نو چې کوم شی په خپله لرو هغه کس ته یې وربښو او له هغه څیز پرته مو په احساساتو، خوی بوی او چلن کې یو څه یکنواختي راځي، ځکه چې په ماهیتي لحاظ هغه شی غواړو او راته ایډیال دی، په همدې خاطر یې هغه کس ته وړاندې کوو؛ په دې ډول له هغه نېکمرغه انسان سره مخامخېږو چې ته وا دا مخلوق زموږ له آثارو او مصنوعاتو څخه جوړ شوی.

★★★

کله چې موږ له ټولو کمزوریو او ناچاریو، بدمرغیو او بدبختیو سره په یوازې ځان پله په پله مخ ته ځو، ډېر وخت تر هغو کسانو مخکې او وړاندې هغه ځای ته وررسېږو، چې د بادبان او پاروګانو په مټ مخته تللي وو...

نو دا د ځان په اړه هغه واقعي او ریښتیني احساس دی چې انسان د نورو په څنګ کې ګام مخته کړي او یا حتی ترې مخته شي.

★★★

۱۷۷۱ نومبر ۲٦مه:

په دنیا کې تر دې بل هېڅ واقعي او حساس خوند نشته چې انسان ستر او شریف آزاد روح ولري!

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۷۱ ډېسمبر ۲۴مه:

دا بېخي کم‌عقل او پوچ کار دی چې انسان نور وګڼي د خپل ځان په تله وتلي.

★★★

په ډېر شوق غواړم هر څوک په خپله لار پرېږدم چې ولاړ شي، په دې شرط چې نور هم ما پرېږدي د دوی غوندې په کومه لار مې چې زړه وي مخته ولاړ شم.

★★★

۱۷۷۲ جنوري ۸مه:

هغوی څومره احمقان دي چې پر دې يې سر نه خلاصېږي چې مقام هېڅکله هېڅ کار نه‌ترسره کوي او حقيقت خو دا دی کوم څوک چې لومړی ځای نيسي، بېخي نادره ده چې لومړی نقش هم ترسره کړي! ربښتيا خو دا ده چې څومره شاهان د لومړي وزير (صدراعظم) په ګوته مخته ځي او څومره لومړي وزيران د خپلو منشيانو تر اغېزې لاندې ژوند کوي!

★★★

زه ګومان کوم، لومړنی کس هغه دی چې ذهن يې پر هر بل شي ورسېږي او په کافي اندازه قدرت يا مکر او چل‌ول ورسره وي چې د خپلو شاوخوا وګړيو له واک او ځواکه ښه کار واخلي او د دوی له احساساتو څخه خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ګټه واخلي.

★★★

۱۷۷۲ فبروري ۱۷مه:

د روح هوساينه او باطني خوښي په ربښتيا چې عالي شی دي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۷۲ مې ۹مه:

زما څه ګټه چې نن هر زده‌کوونکي ته دا واقعیت بیا بیا ووایم چې ځمکه ګرده ده؟... په داسې حال کې چې بشر ته همدومره بس ده چې څو لوټې خاوره یې په لاس کې وي او خپل پایښت پرې ډاډمن کړي؛ واقعیت دا دی چې د خپل بې روحه پیکر د ویده کولو لپاره تر دې هم کمه خاوره ورته پکار ده.

★★★

آه! څه پوهېږم چې ټول نور انسانان هم پوهېږي؛ خو زما زړه یوازې او یوازې زما دی او بس .

★★★

۱۷۷۲ نومبر ۱۵مه:

ښه پوهېږې چې مذهب ته څومره درناوی لرم؛ داسې ګڼم چې [مذهب] هغه سړي ته چې د زیاتې ستومانۍ له امله یې پښې مړې او ګنګس دی لکړه ده... [مذهب] په هغه شېبه کې خړوبېدل دي چې د تندې له امله له پښو لوېږي.

★★★

۱۷۷۲ ډېسمبر ٦مه:

په رښتیا انسان، دغه نیمه‌خدای چې دومره د ستاینې وړ ګرځېدلی، څه دی؟ آیا په دقیق ډول په کومه شېبه کې چې تر بل هر وخت زیات ځواک ته اړتیا لري په وجود کې یې د دغه ځواک کمښت نه څرګندېږي؟..

... او کله چې په خوشحالۍ کې خپل ځواک بیرته ترلاسه کوي او یا په ژور غم کې سر په زنګانه شي، ایا په هماغو حالاتو کې، لا هم ایسار نه دی؟ او آیا تل په دې سره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یکنواخته او نابدلېدونکې پوهېدا سره له خپل کوچنیوالي او حقارته نه راگرځول کېږي، په داسې حال کې چې په خپله په دې هیله او آرزو کې ژوند کوي چې ځان په بې‌انتهایی کې محو کړي...؟

★★★

کله چې له مرگه غږېږو، یوازې خیال ځغلوو... ما د ډېرو مرگ لیدلی. خو بشر دومره محدود دی چې د خپل ژوند د پیل او پای هېڅ نظر/ایډیا یې په ذهن کې نشته .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یوهان ولفګانګ فون ګوېټه ژوند او «د ځوان وېرتېر دردونه» ناول اړوندې خبرې

**سریزه: پېیر بېرتو**

«د ځوان وېرتېر دردونه» په ۱۷۷۴ز کال کې د لایپزیګ (Leipzig) په ښار کې د (Weygand) په نامه کتابپلورونکي چاپ کړ. د لیکوال نوم وربانديې نه و. څرنګه چې د ځانوژنې تبلیغ پکې شوی و، نو سیمه‌ییزو چارواکو بندیز پرې ولګاوه. خو دې بندیز دغه کتاب لا ډېر مشهور کړ. وروسته پوه شول چې د حقوقو یوه زلمي ځانګوال *دکتور ګوېټه* چې د *فرانکفورت* اوسېدونکی او پینځه‌ویشت کلن دی، لیکلی.

په ۱۷۷۴ز کې پاریس د متمدنې نړۍ پلازمېنه وه. د *ولتېر* او *روسو* د ژوند وروستي څلور کاله ژوند پاتې. *پینځه‌لسم لویي* په ناروغۍ مړ شوی؛ خو د پاریس خلک په بحثونو، لیکلو، لوستلو، ویلو او خیالپردازۍ کې ډوب دي. د یوه آلماني مسافر د سترګو لیدلی حال او خاطره ده چې: ټول خلک، که په بګۍ کې ناست دي، که ګرځي راګرځي، که په تیاتر کې دي، که د تیاتر د پردو څنګ دی، که په کفتریا کې دي، که حمام کوي، پر کتاب لوستلو بوخت دي! آن نوکران او ټیټ‌پوړي هم چې د بګیو شاته ولاړ دي، لګیا دي لوست کوي. ګاډۍ‌چلوونکي هم چې په مخکنیو څوکیو کې ناست دي، په لوست بوخت دي! سرتېري هم د پهرې په مهال پر کتاب لوستلو بوخت دي! او دولتي ماموران هم چې د خپل کاري مېز شاته کېني، په لوست پیل وکړي...! ټول، له وزیره تر موچي د کتاب او لوست تبې نیولي. د هغه څه دموندلو په لټه کې دي چې د هغه وخت فیلسوفانو یې پر دومره ستاینه خوله پرانیستې ده! د عقل دوران دی، خو ایمان او منطق وبله ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر خپل ځای پوخلا دي. په فرانسه کې ټولې ټولنيزې طبقې، نوي افکار لولي او بحثونه کوي. د سیاست، عقل او میل/لېوالتیا په اړه فلسفې غږېږي. که نوی خبر ونهمومي، جوړوي یې او آوازې خپروي. مطبعې پټ کارونه کوي، ادبي ژورنالېزم غوړېږي او د ورځې د باب په توګه د ډېرو خلکو پر زړه منګولې لګوي. د (Mercure) ورځپاڼه هره ورځ پینځهلس زره نسخې خپرېږي. روسو *مېلکيور بارون ګريم* ته چې د Correspondence literature مسؤول مدېر دی، تور او شين کېږي. د *اعترافات* کتاب يې چاپ شوی دی او د *خيالځغلونه* کتاب پایته رسوي. په ټوله اروپا کې يې نوم خپور دی، خو په پاریس کې نومورکی دی . روسو خو له هر چا سره خوړلي. لندن-پاریس او پاریس-لندن دواړه د ډېرو عالي فکرونو او الهامونو د تبادلې څلورلارې وې، چې هاله یوازې یکي یوه اروپايي ټولنه وه او بس. خو آلمان ورځ په ورځ په زوال و. ځکه آلماني ادبیات نه وو، په آلمان کې لږ تر لږه شل محلي ژبې ویل کېدلې؛ نه یې ګرامر لاره، نه يې دايرة المعارف او نه قاموس. په ۲۷۱ مېلیونه آلمانیانو کې تر یو لک کم په لاتين پوهېږي او پاتې نور آن د لوست او لیک ځواک نه لري. نو په همداسې وخت کې چې پاچا او فیلسوف په آلماني کې شاعرانه، مینهناک او ډېر رومانتيک ادبیات په نشت بولي او ناممکن یې ګڼي، په ۱۷۷۴ کې «د ځوان وېرتېر دردونه» یوه غوغا جوړه کړي او د اثر ښکلا يې لومړی مقام وګټي او سمدواره د فرانسوي او انګرېزي ادبیاتو په منځ کې ځان ته ځای نیسي او په آلماني کې د «Vertrerinus»تبه رامنځته کوي. زلمیان د وېرتېر غوندې جامې اغوندي (شين آسماني پتلون، زېړ جېلک، خاورينه او ګرده خولۍ). ښځې هم د شارلوتې په دود ګرځي (سپين خت، ګلابي/مخ رنګه دسمالونه پر ټټر را خپاره کړي). پر ببوزو (لاسي بادپکې)، د مېوو او اوبو پر جګونو، د نصوارو پر ډبيو د وېرتېر د غمجنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسې بېلابېلې برخې کاږي. یا*لوت* (شارلوته) ښیي چې د وېرتېر پر قبر گلان شیندي... د *وېرتېر عطر* په نامه نوي عطر بازار ته راووځي. په پارکونو کې د مجنون ونې کېنوي، تر سایبانونو لاندې «د وېرتېر د ایرو لوښی» په نامه منگی ږدي، چې ظاهراً د بېچاره وېرتېر ایرې پکې دي. په محلي جشنونو، اونیزو بازارونو کې لاس‌پلورونکي داسې غږېږي «ښه واورئ، ښاغلیو، او تاسو مهرباني مېرمنې! د بېچاره وېرتېر کیسه، چې په خپل لاس یې خپله هستي پایته ورسوله...!

بده خو یې دا چې زلمي «د وېرتېر په دود» پر ځانوژنه لاس پورې کوي. مېرمن *دواستل* لیکي چې «وېرتېر د دې لامل شو چې تر ټولو زیاتې ځانوژنې وشي، دکومو ځانوژنو چې وېرتېر لامل شو، آن د نړۍ تر گردو گلالۍ ښځې هم پرې بریالۍ نه‌شوې!» روحانیونو پر دې کتاب بندیز ولگاوه چې ځانوژنه یې د شیطاني عمل په توگه سپېڅلی عشق، سوز او گداز معرفي کړې ده. خو فیلسوفانو یې پر خلاف دفاع کوله. آن پر چینې لوښو هم د وېرتېر او لولوت د مینې عکسونه لیدل کېدل.په یوه نیمه پېړۍ کې د دې کتاب یوولس ژباړې فرانسوي ته شوې دي؛ مگر په فرانسوي کې یې دومره هرکلی ونه‌شو او دا کتاب یې ستومانوونکی وباله چې په ټوله کیسه کې تبجن، اضطرابجن او ناکراره حالت موجود دی... فرانسویانو خارق‌العاده پېښه پکې ونه‌مونده او د وینا ژبه یې هم بورژوامأبانه وه. په ۱۸۰۴ کې «مرکوردو فرانس» مجله لیکي چې: گوېټه د ښښلو نه دی! په رښتیا چې د دې کتاب په لیکلو کې یې موخې یو مخ غیراخلاقي ماهیت لاره . خو *ناپلیون*[۱] گوېټه ته په خپله خوله اقرار کوي چې وېرتېر یې شپږ اووه واره ویلی دی  او ټکي په ټکي پرې پوهېده. وېرتېر د ډېر کتابونو د لیکلو الهام او لامل شو او هم یې پر ډېرو

---

۱ - ناپلیون بوناپارت (د آلمان د هغه وخت لوی واکمن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونو اغېزه شته. د *وېرتېرېزم‌تبه* یو ځل ډېره تېزه شي، بیا پڅه، خو یو ځل بیا چټکه شي.

ګوېټه په اروپا کې تر ډېره یوازې د وېرتېر یاد لیکوال پېژندل کېده او دې کار د ګوېټه روح ملال کړی و او چاودېده. یوازې د وېرتېر نوم به د دې لامل شو چې ګوېټه فرار تر قراره غوره وبولي. کوم انګرېز تعقیب کړی و او وېرتېر سمدستي دا شعر ورته لیکلی و:

ځومره مې په وارو وارو پر هغو لېونیو مخونو لعنت ونه‌وایه!

کومو لیکنو چې د زلمیتوب دردونه په ټول عالم کې تیت کړل.

وګنه، که وېرتېر مې ورور وای، اوس به مې وژلی و!

ځکه چې غچ اخیستونکي روح به یې هم، دغسې نه ځورولم.

د وېرتېر تر خپرېدو څلور کاله وروسته ګوېټه مېرمن *دي شتاین* ته لیکي: «د وېرتېر غوندې د بل داستان وس دې خدای نه راکوي!» ګوېټه د وېرتېر په نورو چاپونو کې په لومړني اصل کې بدلونونه راوستل چې سم شي. په یوه یادښت کې لیکي: «د هغې ښځې غوندې چې غواړي ماشوم بېرته خپلې ګېډې ته ننباسي!» اوس یې هم خلک تر وروستنیو چاپونو لومړنی غوره بولي. ګوېټه وایي چې هر شور، انرژي په زلمیتوب کې وي. ځکه ما یو ځل وېرتېر وپنځاوه او د مینې ترانې مې وویلې او همدا یو ځل و، دوه نه! دغه الهي رڼا چې یو خارق‌العاده او بېساري څه راپنځوي، د زلمیتو په پړاو پورې او هم د زلمیتوب د شپو ورځو په توښه، ځکه، تجربه او خوارۍ پورې تړلې دی.

ممکن دا د نړۍ تر ټولو لومړنی ناول دی چې په اړه یې دومره شواهد او بیوګرافۍ شته. ګوېټه په تاند زلمیتوب کې د لایپزیګ پوهنتون د حقوق څانګه غوره کړه، بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



*ستراتسبورګ* ښار ته ولاړ، په پای کې یې په زرو ستونزو سربېره په حقوقو کې دکتورا وکړه. د فرانسې په *آلزېس* ښار کې د *فرېدرېک بْرَیون* پروټېستانټ کشیش د زرزري زلفو ښځبنتنې لور باندې مین شو او له زړه څخه وربانديې ګرانه وه. دوه اړخيزې او ډېرې کلکې مینې وبله تړلي وو. خو یوه ورځ ګوټه بې له کوم مخکني خبر او وضاحته د تل لپاره له هغه ځایه ولاړ، خو نجلۍ پر دې ناخبره او ناڅاپي تګ وکړېدله او هيڅ روغه نه‌شوه. وروسته د ۱۷۷۲ په مې میاشت کې د خپل پلار په خوله د *وېټزلا*ر ښار ته ولاړ او یوازې یې وکالت زده و. په همدې کوچني او ډېر لرغوني ښار کې د *بوف* په نامه یو قاضي اوسېده، مېرمنه یې د شاوخوا پرله‌پسې پینځه‌لسو بچیانو په راوړلو سره د کمزورۍ له امله مړه شوې وه، چې لا یې ۱۲ بچیان ژوندي وو. دویمه لور یې *شارلوت* نومېده چې په *لوت* یادېده. ۱۹ کلنه وه او دغو ورونو او خویندو ته یې د مور غوندې وه. وروسته په همدې ځای کې د ایالتي مالونو په سمبالونه بوخت شو. د جون په نهمه د ګوټه مشرې ترور دې ښار ته د ده د راتګ په ویاړ په *ولپرتزهاوزن* کې په کور کې د ښکار یوه مېلمستیا جوړه کړه، ۲۵ کسو پکې ګډون کړی و چې ټول په آسونو او بګیو کې ورغلل او په بل سبا ترې خپلو کورونو ته ستانه شول. په دې محفل کې ګوټه له یوې پېغلې سره نښتې چې همدا *لوت* ده. له زلمي څخه د دې پېغلې ښکلا، لطافت، ساده‌ګي، روحي تعادل او اخلاقي روغتیا زړه وړي. په بله ورځ بیا کومه موکه وګوري چې لیدو ته یې ورشي. ژر د دې کور ورځنی مېلمه وګرځي. د اګېست په ۱۳مه له دې پېغلې یوه بوسه اخلي. هلته بل کس د ګېستنېر په نوم دی، غواړي له لوت سره کوژدن شي او واده یې کړي. دوی اووه کاله کېږي وبله پېژني، دی پر لوت کلک مین وي، خو دکتور ګوټه ته له زړه درناوی لري او هرکلی یې کوي. ګېستنېر د خپلو خاطرو په کتابچه کې لیکي: «نن شپه لوت په خپله خوله راته وویل چې ګوټه ښکل کړې ده. لږ سره تریخ شوو، خو په سبا یې هر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل حال شول... په ۱۴مه نېټه ګوېټه بیا راغی او سوړ چلن ورسره وشو. تر نیمې شپې په کوځو کې پلي وګرځېدو. عجیبې غریبې کیسې مو وکړې، ځکه داسې ښکارېده چې ګوېټه په عجیب خُلق او خوی کې لاهو دی. ډېر غمجن ښکارېده. په ذهن کې یې عجیب او غریب تصورات راتلل، چې په پای کې یې د هېښتیا له زیاتوالي دواړه په خندا شوو. په ۱٦مه نېټه لوت له ګوېټه سره وغږېدله او ورته ویې ویل چې له دې څخه له ملګرتیا پورته د بل څه تمه دې نه کوي. د ګوېټه رنګ والوت او ډېر غمجن شو... د شپې مو یو ځای لوبیا پاکه کړه.

په پای کې د ګوېټه یو ګران او زلمی ملګری *مېرک* ګوېټه له دې لومې راوباسي، خو څوک نه پوهېږي چې هغه به څه چل کړی وي، چې ګوېټه د غم له دې کوټې راوباسي، خو ګومان کېږي چې د لوت د یوې ګاونډۍ پر ستاینه یې خوله ورته پرانیستې وه. بیا یې وویل چې د ګوېټه درې میاشتنۍ استوګنه په هغه ښار کې پایته رانیژدې کېږي او څرنګه یې چې ټول ملګري او خپلوان په *فرانکفورت* او *دارمشتات* کې ورته په تمه دي، د *سوفي وون لروش* وتلې ښکلې او هوښیارې لیکوالې کره ګوېټه درې اونۍ نور هم پاتې شو.

په پای کې د سپېټمبر په لسمه د شپې د شارلوټې، ګېستنېر او ګوېټه ترمنځ (ممکن دارالحیات ته د روح د بېرته تګ په اړه) عجیب بحث وشو او ګېستنېر په خپله د خاطرو کتابچه کې ولیکه او دا یې پرېکړه کړې وه چې په دوی کې هر یو ژر له دنیا ولاړ شي، پاتې‌شویو ته د ځان خبر ورکړي. دی وایي چې ګوېټه هماغسې ډېر ناهیلی او نارامه دی.

د سپېټمبر په یوولسم سهار ګېستنېر ته د ګوېټه لیک راځي او وایي چې «دا یاداشت د لوت تر ګوتو ورورسوه! دې بحث مې وجود سره څېرلی دی... اوس تاسې ته یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوه خبره کولای شم چې خدای مو مل شه! زه اوس یوازې یم، سبا به دلته نه یم. آه بېچاره سر مې!...» بیا یې لوت ته لیکلي وو: «هو، هیله‌من یم چې بیا راستون شم. خو کله...؟ یوازې خدای پوهېږي. لوت، هاله دې چې خبرې کولې، پوهېږې پر زړه مې څه تېرېدل... یوازې دا خبره حقیقت ده، دا وروستنی وار دی اوس یوازې یم، او مخه مې خلاصه ده چې وژاړم، او تاسې پر خپل ځای نېکمرغه پرېږدم. نور به هېڅکله ستاسې له زړه ونه‌وځم...» دویم یادښت یې داسې و: «لوتې، موزې او پیتاوې مې تړلې دي. ورځ رابرسېره کېږه. لا یو پاو وخت نور هم پاتې دی... بیا به ولاړ شم... خدای دې مل شه! زر ځله دې خدای مل شه!»

دا جوته نه ده چې دی له زړه څخه پر لوت مین و که نه، لکه په لایپزیګ کې یې هم چې لیکلي وو: «پر مینه مین و او بس...» نو له هغه ښاره راغی او مېرمن *دولروش* ته وروسېد چې سترګې یې تورې دي. (د کیسې د شارلوتې به هم تورې سترګې وې، خو د رښتیانۍ شارلوتې سترګې شنې وې...» د *راین* سیند پر غاړه به ګرځېدل او ګوېټه به هرکله نقاشۍ کولې او پر زیاتو طرحو به بوخت شو. ګوېټه د خپلو خاطرو په کتابچه کې لیکي: «ژر مې د کور مشرې لور ته په زړه کې د مینې ځانګړی راښکون حس کړ. په رښتیا ډېر خوږ او په زړه‌پورې احساس دی چې سړی د نوې مینې په هیجانونو کې ولوېږي. په داسې حال کې چې د زړې مینې ولۍ دې په زړه کې لا وچې شوې نه وي... دا بېخي هغه لمرپرېواته دي چې انسان یې ننداره کوي او ورسره جوخته د آسمان په بله څنډه کې یې د میاشتې راختل سترګې ورواړوي! د دې دوو ستوریو د وخت لیدو مې زړه دوه چنده ورپسې کیښ...»

دلته د هغه زلمي د ناهیلو څرک نشته چې څه وخت یې د ځانوژني هوډ کړی و. څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې وروسته ګوېټه خپل پلرني کور ته رسېږي. د سپټمبر په پای کې یې ګېستنېر لیدو ته راشي. شارلوته دا وخت له کسټنېر سره رسمي کوژدنه وي. په سوغات کې شارلوتې ګوېټه ته هغه مخپوټی رالېږلی وي چې له ګوېټه سره یې په لومړۍ لیدنه کې پر کمیس پاس پر ټټر اچولی و. ویرتېر او ګېستنېر بس یوازې د شارلوتې خبرې کوي.

په همدې وخت (د اکتوبر په ۳۰مه) کې د خپل ملګري *کارل ویلهېلم زېروزالم* د ځانوژنې لیک ورته راشي. دی د یوه قاضي پر وفاداره مېرمن هېرډ مین شوی وي. له ګېستنېر څخه یې په امانت توپانچه وړې وي او ځان یې پر سر پرې ویشتلی وي. له اوو کلونو راهیسې ګوېټه له ویلهېلم سره پېژندل او ډېرې کمې خبرې به یې ورسره کولې خو ګوېټه ورباندې پوهېده چې مین دی او ګوېټه له هغه څخه یو کتاب د مطالعې لپاره امانت وړی و چې تر ابده به د دې بېچاره زلمي یاد ورسره پاتې وي» ګوېټه یې له ګېستنېر څخه دوسیه وغواړي او په ناول ([ویرتېر]) کې یې څو ځایه جزیات ترې رااخیستي دي.

د ۱۷۷۴ په جون کې ګوېټه بېرته فرانکفورت ته ستنېږي. له مکس (مکس مېلین) سره بیا ګوري. هغې په دې موده کې له یوه ایټالیایي الاصل سوداګر (برنتانو) سره چې عمر خوړلی دی، واده کړی وي چې آن له پخوانۍ مېرمنې یې هم پینځه بچیان وي. د برنتانو نوم بیا په آلماني ادبیاتو کې ډېر یاد وي. ګوېټه خپل ملګري ته په لېک کې لیکي: «مَکس لا هم هغه پرېښته ده چې په خپلو ساده او ډېرو ښکلو صفتونو سره ټول زړونه ځان ته ورکاږي. کوم احساس چې زما په زړه کې ورته پروت دی او هېڅکله به یې له مېړه سره د رخې او حسادت پلمه نه‌شي. همدا اوس، زما د ژوند د خوشحالۍ او نېکمرغۍ لامل شوې ده! برنتانو شریف سړی دی، چې ورین تندی او ډاډمنه روحیه لري. ځیرک هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی». خو ډېر محتاط او بدبینه دی او تر ګېستنېره یې صبر کم دی او دا خوند نه ورکوي چې هغه ډولي شاعر زلمی یې تر ښکلې پېغلې مېرمنې د پټنګ غوندې راچورلي. هغه له ګوېټه غواړي چې ځان ته کوم بل ښوک وګوري. ګوېټه هم ځي. بیا به انتظار وکړي: د مکس لور وتلې *بېټینا* چې له شور او احساسه ډکه ده، بیا به ځان د ګوېټه غېږې ته وروغورځوي، خو دا ځل به ګوېټه وي چې دا به له ځانه وشړي.

ګوېټه بېرته په کړاو اخته شي... له ټولو ګوښه شي. په سخت عاطفي بحران کې ولوېږي؛ له ځا سره لیده کاته نه کوي، یو خېل ناکرار وي، روحي تبې نیولی وي او په دې روحي حالت کې پر لیکلو لاس پورې کړي. په څو اونیو کې (د فېبروري له پیله د مارچ تر نیمایي پورې) بې له دې چې یوه شېبه هم لیکل پرېږدي، کوم څه چې لومړی یوه ډراماتیکه غمیزه وه، په ژوند کې یې وپنځوله، یو ناول یې ترې جوړ کړ.

ګران ملګري یې په لاس لیکلې نسخه کې د بدلونونو له راوستلو څخه راوګرځاوه. ده هم په لایپزیګ کې یوې چاپخونې ته نېغ په نېغه ورولېږل او د دې کتاب د خپراوي پاژه یې د *ویګانډ* په نامه یوه ملګري ته وروسپارله. چې کتاب چاپ شي، ګوېټه د ګېستنېر مېرمنې ته په دې مضمون لیک سره هغه کتاب ورولېږي: «د هغه ځا سره مینې ته دوام ورکړئ چې ژوندی دی او ځا چې له دې دنیا خدای‌پاماني واخیسته، د هغه درناوی وکړئ...» خو ورسره جوخت شارلوټې ته په خطاب یو بل یادښت هم ورلېږي: «لوت، نه پوهېږې چې دا کتاب څومره راباندې ګران دی...! ډاډمن یم چې د لوستلو پر مهال به یې ته هم هغه احساس وڅکې او دې خبرې ته به دې ورپام شي. دا نسخه بېخي د هغې نسخې غوندې ډېر ارزښت راته لري چې په ټوله دنیا کې همدا یکې یوه وي! دا نسخه ستا نسخه ده! هغه مې په بوسو پټه کړه او بیا مې په هغه صندوق کې چې خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې يې قلف کړې ده، اېښې ده، چې هېڅوک لاس ورباندې ونه‌لګولای شي! آه، شارلوټې! زړه مې ډېر غواړي چې تاسې هر يو مو دا کيسه ځانته ځانته او د خپل ځان لپاره ووايئ: ته يې هم يوازې او ګېستنېر يې هم او تاسې هر يو يې! بيا د کتاب په پای کې لنډ يادداشت راته راولېږئ. لوټ! خدای دې مل شه! آه، لوټ...!»

خو ګېستنېر چې کرکټر يې په کيسه کې راغلی دی، نه خوشحالېږي! هغه سخت نارامېږي، هغه په دا چې کوم شخصيت چې دی په ټولنه کې لري او کوم مېړه چې له شارلوټې سره دی، ټولو ته ښودل کېږي او کومه کنجکاوي او شرارت چې ټول خلک ورته ښيي، د زغم نه وي. خلک يو په بل پسې شخصي پوښتنې ترې کوي او يوه شېبه يې هم په روغ زړه نه پرېږدي...

ګوېټه ګېستنېر ته ليکي چې تر هغو چې مو د کيسې پر پای ځان نه وي پوه کړی او د وېرتېر پر احساس پوه شوي نه يئ، بيا ليک مه راته ليکئ، خو دربغی چې ما يو ځل ځان ستا غېږې ته درغورځولی او د شارلوټې پښو ته لوېدلی وای، بيا دا هر څه درته په آسانۍ توضيح کېدل. شارلوټې ته ووايه چې نوم يې د زرګونو مينانو په خوله په اخلاص او تبجن درناوي او ارادت بيان شوی دی او دا چاره مو هغه ډېرې ستونزې په آسانۍ درڅخه تويولای شي چې دې کيسې درته رامنځته کړې دي!».

په پای کې د ګېستنېر يوه ملګري چې په فصيحه فرانسوي يې ليکل کول، ليکلي دي: «په رښتيا چې د داسې ملګري لرل خطرناک دي، چې ليکوال وي...» او په دې توګه هرڅه بېرته ساړه شول. د ګوېټه او ګېستنېر د کورنۍ ترمنځ اړيکې کمې او ښځي کمې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واده په نېکمرغه ۲۷ کلن ژوند کې د لوت څلور لونې او اته زامن وشول. چې ګېستنېر ومړ، شارلوتې د ګوېټه سلاکار (وون) ته لیک ولیکه چې د دې زوی ته د فرانکفورت په ښار کې زیاته آسانتیا جوړه کړي چې د طب په څانګه کې زده‌کړې وکړي. ګوېټه او لوت تر ۱۸۱٦ز پورې یو بل ونه‌لیدل. په همدې کال ګوېټه اووه شپېته او شارلوته دري شپېته کلنه وه. د جالبو لیدو پر کیسه یې *توماس من* ناول لیکلی... په دې توګه، کله کله ادبیات له ادبیاتو تغذیه کېږي... په ۱۸۰۵ کې د وېرتېر پر سبک فرانسوي لیکوال *برتلېمي فروبېروېل* یو ناول ولیکه. ده په یوه لیک کې په ۱۸۱٦ کې *زېټېر* ته ولیکل چې یوازېنی شی چې د پېښو د عجیبو غریبو شرایطو له منګولو مې خلاصوي، تخیل مې دی. ده به هر وخت ویل چې تر وېرتېره یې زیات ژوند کړی دی.

په ۱۸۲۴ کې *اېکېر مَن* ته لیکلي: «دا کتاب مې تر خپرېدو وروسته تر اوسه یو ځل لوستلی دی او ډېره خواري مې وکړه چې بیا یې له سره ونه وایم. په رښتیا چې د چاودېدونکو وسایلو غوندې ډېر خطرناک دی. د دې کتاب لوستل درد راکوي او ځان خورم؛ تل مې ډاروي چې هماغه ناوغحالۍ ته بیرته ور ونه لوېږم... هغه حالت چې له امله یې دا کتاب جوړ او دنیا ته راغی».

وېرتېر په بل لیک کې اېکېرمن ته لیکي: «د وېرتېر پېر د هر انسان په شخصي تاریخ پورې اړه لرلای شي. څوک چې د آزادۍ ذاتي حس ولري او ځان د ډول ډول سختو، تاریخ‌تېرو او زړو تولنیزو او دنیایي محدودیتونو او قراردادونو په منګولو کې ویني.

هغه موجود چې مجبور دی، ځان له دې شرایطو سره سم کړي. په ټول دوران او هر وخت کې هر انسان ته هغه نېکمرغي چې له انسانه یې درېغولې، کوم عمل چې انسان پای‌ته نه دی رسولی، کومې غوښتنې چې هېڅکله ترسره شوې نه دي، مخې ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د خواشينۍ ځای دی چې په موږ کې هر يوه لږ تر لږه په خپل ژوند کې يو ځل داسې دوره نه ده تېره کړې چې موږ ووينو د ويرتير کيسه کټ مټ زموږ د ځانګړي روحي او زړني حالت لپاره ليکل شوې وه. د ويرتير کيسه يوازې د ده پر مينه‌يي حال ليکل شوې. ده هر زلمي يا تاند زلمي ته چې له دغسې مينه‌يي بحران سره مخ شوی او لاس يې ورباندې رسېدلی نه دی، لاندې جملې ليکلې دي: «بشري شهکار؛ بقا او پايښت دی!» ممکن، ده چې خپل ويرتير ته کتلي او فکر يې پکې کړی، نو په مرسته يې پر خپله بقا بريالی شو او خپله هستي يې نابوده نه کړه.

د نړۍ په کچه دغه د آلماني ژبې لومړنی ادبي اثر ګڼل کېږي. په دې ناول کې د شخصي کيسې اړول پر يوه نړيوال ادبي اثر، د ناول‌ليکنې د فن او دود پرمختګ، پر وخت او پرځای د طبيعت توصيف او طبيعي منظرې کتلای شو. د رومانتېزم تر ادبي پېر مخکې حساسيت پکې په ښکلي ډول څرګند شوی. د يوه روانشناند طبيب په توګه د يوه زلمي د ذهني پوختيا پر بحران پوهېدای شو او دا چې څرنګه له تاندې زلما تر پوخوالي په سختۍ تېر شوي دي چې د ويرتير غوندې خلک په دې لېږد کې مات شوي او د ګوېټه غوندې شخصيت ته لوی بريالېتوب و.

ګوېټه د لباس له بدلولو، لوبو، تفرېح او ادبي ساعتېريو ډېر خوند اخيست. له کلمو سره لوبې، جالبې شوخۍ، خندوونکې نندارې ډېر خوند ورکاوه. د ژوند تر پايه يې دا هڅه کول چې له لوستونکي سره جالبه لوبه وکړي. ګوېټه له لوستونکي غواړي چې د خيال په ډاګ کې ورسره وګرځي. کوم لوستونکي يې چې ادبي ظرافتونه درک کولای نه‌شي، ګوېټه د اولمپياد د خدای غوندې ورته څرګندېږي: ډېر دقيق، شريف، درونډ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان او دبدبې ښتن... خو ځیرک لوستونکی یې د باطني فکر تـــل ته ورکوزېږي، له مخه یې پلو ایسته کوي او په ټوکمار سترګګ بلنه وکوي چې په ګوښه یوازېتوب او تیاره کې ورپسې شي او په پای کې ورته ووایي: «هو... بالکل دې زما روحیه ښه درک کړې ده.

که څه هم ټوکې او طنز [د ګویټه] [...] په آثارو کې ډېر دي او تر وېرتېر وروسته یې پینځه نور خندني آثار خپاره کړي، خو د وېرتېر د لیکلو پر مهال یې روح په عذاب و، له مرګ او ژوند سره یې ډغرې وهلې او دا خبره هم له پامه غورځولای نهشو چې ګویټه په رېښتیا غوښتل جدي او مینهیي ډېر غمجن اثر ترې پاتې شي.

فرانسویانو یې چې د ناول په اړه خپل نظر څرګند نهکړ او [اثر] یې خوښ نه کړ، ګویټه وویل چې داسې تمه مې له فرانسوي نژاده نه وه، بلکې دوی باید ظرافتونه موندلي وای، زما د کیسې تل ته ورکوز شوي وای او د لیکوال ژور فکر او نیت یې موندلی وای؛ دوی لکه چې وېرتېري تبې نیولي دي؟

ګویټه چې ایټالیې ته ولاړ، هر ځای یې دا لاتیني شعار و:

“spernere mundum – Spernere Neminem”

“Spernere seispum – Sperenere se sperni”

(پر هرڅه تمسخر – د هېڅ موجود نهتمسخر

پر ځان باندې تمسخر – دا واقعیت تمسخرول دي چې انسان تمسخر شوی دی).

انسان باید هېڅکله نه د خپلې شاوخوا ځیزونه، نه خپل انانیت جدي وګڼي، او پوه


(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې پر هر هغه څه چې وشي، سربېره باید ځان خپګان ته په لاس ورنه‌کړو، او تل باید پر هر څه ځان بوخت کړو چې په پای کې مو ژغورنه او کامیابي په برخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**